# د زندان یادونه



## شمس بونیری

Download from:aghalibrary.com

# د زندان یادونه

شمس بونیری

خپرونکی،
د سرحدونو چارو وزارت
د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست

PROPERTY OF
ACKU
2693

۱۳۶۷

# تړون

«د هغې قديمې او ګمنامه فلسفې په نوم چې د هغه دا خبره زما د ذهن په پرده ثبت ده. داسې بې وقوف به څوک وي چې د امن په ځای جنګ ته ترجيح ورکړي ځکه چې په جنګ کې بوډاګان، پلاران خپل ځوانان بچي ښخوي او په امن کې ځوانان بچي خپل بوډاګان ښخوي»

# شمس بونیری

## د انقلاب او ولسي شاعر

د پښتو ادب خېزه او انسان پاله خاوره د هغې روانې چینې مثال چې د ګلګونو او زرګونو تږو تنده ماته کړي، بیا هم د وچیدو ویره یې نه کیږي او هغه ګلشن ته ورته ده چې د رنګ او بوی یو کاروان یې له رباطه لیږدي، نو بل یې خامخا اړوي.

همغې پاک لمنې مور، د پښتو خاورې، هم د خوشحال خټک په څېر آزادۍ غوښتونکي سرسخت مبارزین، هم د رحمان بابا په څېر د کلام اعجاز خاوندان او هم د حمید مومند او کاظم شیدا په څېر نازکخیال شاعران دیری په مخ راوړل، ویې روزل او په خپله پښتنه غېږ کې یې بېسره ته ویده کړل.

د اهماغه پښتنه غېرتۍ مور ده چې د انګریزانو د سرسختو دښمنانو او د وطن د آزادۍ د پتنګانو مولانا فضل محمود مخفي، عبدالمالک فدا، عبدالخالق خلیق، محمد اکبر خادم او داسې نور د بې شمېره شاعرانو د زیږولو او روزلو ویاړ لري.

د کوږګانۍ ظلم او استبداد دور تېر شو او د انګریز د خونړي ښکیلاک پاڼه ظاهرًا او نښته

او ځای یې ورو په ورو د مارشل لایی او نظامي سرتېرو په ځېروکي دملي ستم او پانګوالۍ بناماراتو ونیو . په عربي ژبه کې یو زاړه متل دی چې وایي : «هر فرعون ته موسی شته او هر رنځ ته چل دارو» ، دا دی د هغو سرتېرو نظامونو د ملي ستم او د پانګوالۍ د بناماروتورې شپې پای ته رسېدې ښکاري ، هلته په سره شفق کې د بشري آزادۍ ، اجتماعي عدالت دوروري او برابرۍ د نمر شرک لومړي سرې وړانګې ترسترګو کېږي چې د اولسونو په سره آسمان کې د انقلابي ، ادب او د سوسیالیستي ریالیزم سرې وړانګې دي .

د نړۍ ادبیات د «سوسیالستي ریالیزم» له اصطلاح او هغې له مفهوم سره د شلمې پېړۍ له پیله آشنا دي چې د اکتوبر د انقلاب د بریالیتوب ـ شوروي اتحاد ستر لیکوال ماکسیم ګورکي یې بنسټ ایښی دی . څو مره چې بیا د نړیوال امپریالیزم منحوسه پرتمن د نړۍ د غلامو او ویده ملتونو له سره تولیده ، او څو مره چې د اکتوبر د انقلاب د سرو وړانګو څپې پراخېدلې هماغومره د غو انقلابي ادبیاتو سرې وږمې هم د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسېدلې چې د ثور د انقلاب په بریالیتوب کې د دغه سره ادب پیدا ښت او وده یې یو ښه مثال دی .

د پښتنو سیمه هم د دغه سره پسرلي د نسیم له اغېزې بې قیصه پاتې نه شوه او د ختیګو مومندو ، یوسفزیو ، سوات او بونیر په د ښتو او غرونوکي یې د صنوبر حسین کاکاجي

اجمل خټک، سیف الرحمان سلیم، سعدالله جان برق، فضل حق شیدا او رحمت شاه سایل
په څیر سره ریډي ګلونه را وټوکول چې دادي په دې جمله کې ستر انقلابي شاعر، د سوسیا-
لیستي ریالیزم بیرغ چې، د مارشل لایي استبداد په زندانونو او شخېړونوکې از مایل شوی او
پوخ شوی شاعر هم معرفي کوو چې هغه شمس بونیري دی .

هر شاعر، هر لیکوال او هر هنرمند باید د تقریظ او کره کتنې په عباراتو کې نه بلکې باید په خپله
اید یا خپل ایجاداو هنرکې معرفي شي .

د لته هم غواړو چې د شمس، زما په الفاظو کې د طلوع، و نه کړي بلکې د خپل ایجاد په افق
کې راپورته شي او د هر چا ستر ګې رو ښانه کړي .

شمس یو انقلابي شاعر دی . په انقلاب ایمان لري او د مظلومو پرګنو د ژغورنې لپاره هم د غه تجربه
شوي نسخه وړاندې کوي :

شمسه ! جنګ چې د محنت او سرمايې دی .

د اقتصاد په انقلاب سرته رسېږي .

شمس په د اګه زېرې او ته د انقلاب غوښتنو اعلان کوي :

اې د زړې ح بیدار و خلکو وا وری

زه سره سپرلي، سور انقلاب غواړم .

گناه مې داده دخونې ليلاه نه

دخپلو سرو وينو حساب غواړم

دشمس طبقاتي تولنه دټولنيز - اقتصادي تاريخ په داسې مرحله کې ده چې هم د فيوډاليزم د بقايا و - خانانو او سترو زمکوالو دملي ستم د جغ لاندې کړيږي او هم يې دوده کوونکې پانګوالې دنظام د زبېناک داستحصال ، ژورې دستوني وينې څښې چې په عمده توګه دپنجابي کمپرادوران له خوا رامنځ په زياتيده ده شمس هم له يوې او هم له دغو ژوردي سره په مبارزه کې دی او وايي :

شمسه ! که سل وارې کافرې کړې څوک

سمه خبره ده چې خان نه منم .

بل ځای د مارشل لايي او پانګوالي پر ضد ستر انقلابي شهيد نذير عباسي ته دپانګوالي دنظام دختم داسې زيری ورکوي :

نه پاتې کيږي نور ، ددې نظام وروستي سلګۍ دي .

زمکه خوځه کوي چې بره آسمان اوراخستی .

او س خپل حق نه غواړي ، هستا ياران راوتي يې

د سرمايې د دلالانو دوران اوراخستی .

شمس د هغو فیوډالي او دغو پانګوالو لیوانو نه د خلاصون له پاره د انقلابي ملګرو په
لښکو کې دی او د تاریخ د جبر په حکم د هغوی زوال وینی :

خو ملګري د اسې ګورم چیرته شته دی .
چې وطن د دې لیوانو نه اوزګار کړي
شمسه ! بس د ظالمانو وخت په تلو دی
دا وخت نه چا ته کله انتظار کړی .

شمس د یوه ستر ناسیونالیست انقلابي په توګه نه یوازې په خپل هوا د او خپلې ټولنې
کې ، بلکې په ټولې نړۍ کې د پانګوالې د استبدادي نظام اړول غواړي :

تن چې د هر تن بیت شي ، د خپلې غم یې وسي
ځئ چې هغه راځ شمسه ! په ټوله دنیا راولو

شمس یو باخبره او د نړۍ په انقلابي حالاتو ښه پوه دی ، هغه پوهیږي چې په
نړۍ کې د شوروي اتحاد د انقلابونو د ملاتړ په توګه د داد ځای دی ، هغه د شوونیستانو په
پوچو « انقلابي چیغو » نه غولیږي هغه د خپل وطن نظام پیژني چې ظاهراً په سرو او باطناً په
تورو مرتجعینو اتکا لري .

ذکر که د روس دې په مثال کې د کړو جیل ته ځه
هیڅ نشته خو دا په قصیدې د امریکې ، د چین

شمس یو انقلابي دی او د یوه انقلابي په توګه په نړۍ کې د سولې او امن کلک پلوی دی یو ځای لیکي :

څوک چې د وطن د نام او ننګ جنازه وباسي .
دوی په خلکه څنګه د فرنګ جنازه وباسي .
دالمبې د قهر سره دمه ، امن غواړمه .
زه داسې جنګ غواړم چې د جنګ جنازه وباسي .

شمس د هغې نړۍ د جوړیدو په فکر کې دی چې د بمونو او جنګي الوتکو اوازونه یې نه وي کارخانې د وسلو د جوړولو پاره نه وي ، هر څوک د ژوند سندرې وایي ، د جنګ نوم هم څوک نه پیژني ، او دا یوه تشه او توپیا او پوچ خیال نه ګڼي . دی باور لري چې د جګړې سندرا ، نړیوال امپریالیزم ، د راپرزیدو وخت دی او نړیواله سوله ټینګیدای شي .

دغه خیال په حقیقت کې بدلیدی شي
دا د جګړې سندرا ، داغل راپرزیدی شي
د جنګ اور ته چې لمن وهي په زوره
دا امکان شته چې اوس جنګ په شا کیدای شي

د ظلمو په خوله نرۍ کې یو شعار دی
د جنګونو لوی دلال د ژوند غدار دی .

راځئ چې د مرتجعو او ظالمو واکمنو له لاسه د انقلابي شمس ټولنې بوږنوونکې سیاسي فضا هم دده په سترګو وګورو .

یو ګراني، بل پابندي، دوهم وحشت دی
هر طرف ته د جرنیل باچا کړی دی .
د پوځیانو حکومت دی نور څه نشته
یا زندان دی، یا کوړې دی یا ګولۍ دی .

ګرانو لوستونکیه !

شمس بونیري د بونیر د ښکلې وادۍ یو انقلابي شاعر دی، د پښتنو په پرګنو کې د بونیر ښکلې خاوره په دې شهرت لري چې ساده زړې کسان د ظالم د ظلم، زور یا وراره د نه لرلو د مشکل، د نیستۍ او لوږې د فساد نه د خلاصون په خاطر ملته د لمتو زیارتونو نه د مرستې د غوښتلو په غرض ورتله او ورځي، خو نور به د ظالمو استعمارګرو نظامونو، د ټولیزې بې عدالتۍ، د ملي ستم او نابرابرۍ د جنګ نه د خلاصون نسخې د بونیري شمس په انقلابي عمل او انقلابي شعر کې لټوي .

دغه « د زندان یادونه » د شمس دوهمه مجموعه ده چې زما لاس ته راغلې ده.

د اشعارو لومړی مجموعه یې د « سور سحر » په نامه زما په خیال په (۱۹۷۷) کال کې په پښتونخوا کې خپره شوې ده .

له ما سره متأسفانه د انقلابي شمس د بیوګرافي په باب مواد نشته، خو د « سره سحر » په مقدمه کې چې ده په خپل قلم لیکلې شوې ده د لنډو معلوماتو او د « زندان یادونه » د اشعارو په پای کې د نیټو او ځایونو له ښودلو په ډاګه معلومیږي چې « سور سحر » زیات شعرونه د هغه ځای د ظالم پوځي نظام نه د فرار او اخفا په وخت کې او « د زندان یادونه » په بیلو بیلو زندانونو کې لیکل شوي دي .

« سور سحر » په مقدمه کې د شمس د ژوند په څو یادونو لنډیز را اخلو : د (۱۹۷۴) کال د مې په لومړۍ نیټه د ده د نیولو حکم صادر شو، خو د ملګرو له خوا ده ته دستور ورکړ شو چې ځان پټ کړي او پولیسو ته ځان تسلیم نه کړي. خپله دی پټ شو خو د اشعارو لویه زیرمه یې د « خوندرنګ ګلونه » په نامه پولیسانو ضایع کړه . نور نو غرونو او هټو ځایونو ته د فرار ژوند پیل شو او یو کال او شپږ میاشتې په ډېره سخت حالت کې تېرې شوې، خپلوان یې هم بندیان شول او ده مجبوراً په (۱۹۷۵) کال کې یې افغانستان ته پناه راوړه او د ثور د انقلاب په وخت کې

همدلته د . شمس بونیري چې (۳۸ـ ۴۰) کلن زلمی به وي روښانه انقلابي راتلونکي په مخ کې لري او موږ یې د انقلابي ارمانونو پوره کول غواړو .

سرمحقق دوست شینواری

# یادونه او رهانونه

ژوند د مسلسل جدوجهد نوم دی او جد وجهد د ژوند د رهیم نوم دی او د پوهې خاوندان پردې پوهیږي چې د صحیح جد وجهد مخې ته همیشه ښکلې او اعلی مقاصد موجود وي .

ژوند څرنګه تیریږي ؟ په پټوکې تیریږي ، په کارخانو او ملونوکې تیریږي په کالجونو او سکولونو کې تیریږي . د تحقیق په مرکزونو او د خدمت په ګټو ځایونو کې تیریږي . د غه ژوند بالکل واقعی او حقیقی ژوند دی .

ولی ژوند خو ظلم په ماڼیو او محلونو کې هم تیریږي . څرنګه چې د پاکو او بې ګناهو انسانانو د وژلو او لوټلو سانه شونه کیږي نو دا ژوند نه دی ؟

نا ! بالکل نا ! دا ژوند نه دی دا په ژوند او ژوند د خلکو پورې خنداده د العنتی او طفیلی ژوند دی ځکه چې خدای پاك په قرآن حکیم کې ویلي دي:

« چې خدای پاك ظلم کوونکی نه غوره کوي » او د ظالمانو د پاره د خدای په

دربار کې د پناه او نجات لاره نشته .

د جد و جهد په دې دوران کې کله نا کله د زندان یادونه هم د ژوند یوه نه هیریدونکې حصه وی . زندان یو ځان دنیا ده ، د ځینې خپل قواعد او ضوابط وی ، د ځینې خپل ماښام او خپل صبا وی او د هر زندان صبا او بېګاه د بل نه جدا او مختلف وی ، ځکه خو هوښیاران وایي « د قیدی روڼې د ځلو د ا نوبرابر وی »

د زندان نوم ډیر وحشتناك دی او په حقیقت کې هم ډیر د غضب ځای دی ولی د ده یادونه ډیر خوانره او نه هیریدونکې وی . موږ په ژوند کې ډیر ښکلې ښکلې خلك ولیدل چې د ځوی ځوانۍ جیلخانو وخوړې ، خو ځینې داسې خلك مو هم ولیدل چې زندانونو ترینه ښکلې او عظیم خلك جوړ کړه چې نن یاد او لس رهبری کوی او یا یې د وینو ډیوې د کاروان په لاره کې بلې کړې او ابدی ژوند ته یې غاړه ورکړه او د تاریخ په پاڼو کې د تل د پاره ژوندي پاتې شول .

زه هم غواړم چې د زندانونو د یادونه چې زما د مرګ یادونو - اسویلو ، ګیلو او نغمونه علاوه نور هیڅ نه دي ، راغونده کړم او هم « د زندان د یادونو » په نوم یې ستاسو ته پیش کړم .

یوه فیلسوف ویلي دي "چي کډ یو سړی په دنیا کې یوه ورځ په آزادۍ تیره کړي او بیا جیلخانې ته د ټول عمر د پاره ولیږلی شي، د د غي یوې ورځي یادونه هغه د ټول عمر د پاره په جیلخانه کې خوشحاله ساتلی شي"

کاش چي ما هم د غه شان یوه ورځ ازاده ولیدلی وای کډ ما د غه شان یوه ورځ ازاده ولیدله نو تضمین ورکوم، چي هیڅ د شعور خاوند به په خپل ټول عمر کې د جیل د دروازې په سترګو ونه ویني. زما او د غه فیلسوف د سوچ بس د غه ورو کې شان فرق دي.

د زندان د ایادونه کډ په چابند ګۍ او که بده د دې د لیکلو او چاپ کولو نه زما واحد مقصد او مطلب دادی، چي خلك ژر ژوند ته متوجه کړم او هغه خلك چي د لته د قدرت او توان خاوندان دي، هغه په دې پوهه کړم چي زندان ته خلك لیږل د مسئلو حل نه دي. کډ تاسو غواړئ چي ژوند په سکون او په ارام تیر شي نو داسي حالات مه پیدا کوئ چي خلکو ته د زندان د دروازې لری شي، بلکي هغه حالت پیدا کړئ چي د زندان دروازې د همیشه د پاره بندی شي او دا زندانونه صرف د دې د پاره وساتو چي راتلونکی نسل د دې نه سبق واخلي. په نورو الفاظو کې دا جیل خانې

سیوزیم ته ورپل په کار دی.

سقراط د وخت حاکمانو ته څه بنه مشوره ورکړې وه هغه چې د زهرو جام څښلو نه هغه د اشرافیه نماینداګانو ته وویل! تاسو زما په مرګ د ځان خلاف اواز بندول غواړئ. د فرار لاره د شرافت لاره نه ده. که تاسو غواړئ چې ستاسو خلاف د بغاوت اواز پیدا نه شي نوما څله وژنئ د خپل ځان اصلاح وکړئ.

زه د سقراط د دې وینا سره دومره قدر له اضافه کول غواړم چې کله مونږ خوک زندان ته ددې د پاره بوځي چې د ظلم دوره زیاته شي نو د تاریخ فیصله څه بل رنګ ده.

د حضرت علی (رض) قول دی چې (د کفر حکومت چلیدی شي خو د ظلم حکومت د چلید و نه دی) نو ای ظالمانو واورئ خپله اصلاح وکړئ. د تاریخ فیصله په جبر مه بند وی ګنئ نو داسې لیونی طوفان به پیدا شي چې تاسو د هغه تصور هم نه شئ کولی. ظلم په هر حال ظلم دی او کوم ځای چې ظلم وی هلته نفرت وی او چې په کوم ځای کې د تشدد بازار ګرم دی هلته ورسره ځنګ په ځنګ مزاحمت هم وجود لری.

ما ته د هغې بودۍ خبره زیاده شوه چې په ځنګل کې نا سته وه او
اوښکې یې کوله چې پری د پاسه کنفوشس راغلو او ترینه یې پوښتنه وکړه
چې بودۍ ولې ژاړې! او هغې ورته ووې! په ښار کې یو ظالم سړی
اوسي، د هغه نه مې دلته ځنګل ته کډه وکړه او دلته مې خوی مړی
مات کړه. زه هم دلته اوسم او د هغه مړی انتظار کوم چې بیا به کله
راځي. کنفوشس خپلو ملګرو ته مخ واړولو او ورته یې ووې چې ګورئ
ظلم د ومړ بد شی دی چې خلک ځان په مړې ماتوی، خو ظلم نه کړی.
دا خو بله خبره ده چې بعض خلک د وختونو مصلحت وکړي او ځان
ظلم او جبر د خپرونه په ډېره استادۍ سره پټ وساتي.

ګلیلو چې د دې حقیقت درک وکړو چې زمکه ګرځي د اتلي حاکمانو په
حقله د پاپانو سزا وخېژوله، خو هغه ته وویلی شو چې اوس هم وخت
دی ستا سزا معاف کېدی شي، خو ته ووایه چې زمکه نه ګرځي. نو هغه په
ځواب کې ووې چې تاسو ملګرو حقیقت وایئ، مقدس کتابونه یې په حقه وی او
زمکه په ځای ولاړه ده.

د هغې سزا معاف شوه او د پاپانو د تحقیق نه راګوښه کړی شي. نو دوستانو

هغه ته وویل چې گلیلهٔ دا تا څه وکړل ! تا د مرګ د ویرې خپله ټوله خواری او
کوشش تباه کړه ! نو هغه ورته وویل : په کم عقلو ! زما په وینا زمکه کله
ودریږی ؟ دا به گرځی او د تل دپاره به حرکت کوی . زه ولې د دې بې عقلو
د لاسه ځان تېرندی کړم .

ما هم د دې کتاب په «سندرو» او د «نغمو» کې دومره قدر له ویلي دي
چې د ظلم او زور نظام حتماً ختمیدونکی او بدلیدونکی دی ، زما کامل یقین
دی چې زما د وخت حاکمان به لکه د ا تېلی د حاکمانو غوندی رجعت پسند
نه وی او په دومره وړو وړو خبرو باندې په غضب کې نه راځی .

او د دې قیصې په اوریدو خو مې یقین نور هم محکم شو . وایی چې بوامیر
سړی ناجوړه شو ، هغه خپلو رشته دارانو ته وویل چې ځایه ډاکټران او
طبیبان مه راولئ ، زما علاج داری چې زما خوږې په خپلو لاسو لس روپۍ
وکړی او ما ته یې راکړی ، زه به هغه ورځ جوړ یم . دا به ورځ د هغه رشته
دار د هغه خوږې ته لس روپۍ ورکړی ، ورته یې وویل : دا د بیلا ز له وکړه
ورته ووایه چې مزدوری یې کړی ده . د هغه خوږې نوبت په لاس د بیلاز وکیت
خواته ودریدلو ، ورته یې وویل : بابا دا پیسی واخله ! دا ما د اصطبل په ...

صفائي کې ګټلې دی ! هغه پلار نوټ د کړکۍ نه ښکته سړک ته ګوزار کړه

بله ورځ د هغه بل ښتنه د الس روپۍ ورکړې او هلك پلار ته ورې :

بابا د الس روپۍ مې د لړګو په مزدورۍ کې ګټلې دی ! پلار د هغه سنه

نوټ واخیستو او ګرم اوربته یې ګوزار کړه او هغه نه یې مخ واړولو . بله

ورځ هلك راغی او د پلار په لاس کې یې د لسو روپو نوټ ورکړو . د هغه

پلار نوټ خیر ول غوښتلو ، چې هلك منډه کړه او د پلار لاس یې

ونیولو ، او ورته یې ورې ! بابا ستا خوښه ده که اخلې واخلې ، که نه ما ته سوټ

واپس راکړه : په دې مانې تو له ورځ ګټلې تولی دی او خپل پولی لاسونه یې

پلار ته وښودلو هغه روغونډی مسکی شواو ورته یې ویل ! وس به ما خدای

جوړ کړې .

زه هم داوایم چې که زما د شاعرۍ په چا بده لګي نو هغه هیڅ حق نه

لري چې د دې سره بد سلوك وکړي ، ځکه چې په دې شاعرۍ ما د زندان

دالونه خوړلې دی ، نو ځکه زه دومره حق ضرور لرم چې خلکو ته یې وړاندې

کړم . که دا نغمې د چا خوښې نه شي نو په خپلو غوږونو کې دې ګوتې کېږدي

زما په خوله دې مهرونه او زما په شاعرۍ دی پابندۍ نه لګوی .

زما دا خیال و چې دا یادونه به د دې چاپ په ځای د جزکانو یې رحمه
غامینونی د حواله کړم ، واک د خدای او رضا د دوی ده . خو یو مشر را ته
قیصه وکړه چې ریښتیا ویل د یو ښه کار دی ، هغه را ته وویل چې یو
باچا ته چا په غوږ کې وویل چې په دې ښار کې یو شاعر د «عالی جاه»
خلاف نظم لیکلی دی . هغه ټول شاعران راوغوښتل او حکم یې وکړ
چې قصیدې ولیکئ . ګڼو شاعرانو د شاعرۍ نه انکار وکړ او باچا حکم
وکړ چې دوی جیل ته ولیږئ هره ورځ به ځینو ځینو شاعرانو قصیدې
لیکلې او د جیل نه به تلل په اخیر کې دوه شاعران پاتې شول . باچا حکم
وکړ چې که تر صبا یې قصیدې ونه لیکلې نو د ښار په چوک کې یې پانسي
کړئ . یو شاعر د شپې قصیده ولیکله ، هغه رها شو او بل سحر د ښار
چوک ته د پانسي د پاره بوتلی شو . شاعر چې د پانسي په تخته ودرېدلو ،
نو هغه وویل ، ولاړ وکړئ قصیده او ووم او هم هغه نظم یې شروع کړ
کوم چې هغه د باچا په خلاف کې لیکلی و . باچا هم په موقع ولاړ
و ، هغه یې د پانسي د تختې نه راکوز کړو او اعلان یې وکړ چې زما په
ریاست کې دا یو ریښتونی شاعر دی او زه دا ندوژنم .

ما هم پخپلو نغمو او نظمونو نظر واچولو، ما ته هم دا نظمونه رښتوني
معلوم شول او د ستي مې د دې کتاب د چاپ کولو فیصله وکړه. ګورم چې
زما په وطن کې د رښتوني شاعر او رښتوني شاعرۍ سره څه کېږي.

د زندان یادونه زما د ژوند سرمایه ده او زندان هم زما د ډېر ښه
دوست دی. هرکله چې ده ته ورغلی یم، ده زه خالي لاس نه یم
رااستون کړی، ما ته یې داخل دا کتاب په لاس کې راکړ او زه یې تاسو
ته پېش کول غواړم.

زندان ما ته په ژوند کې نور هم ډېر سبقونه راکړي دي. ابن بطوطه
یو ډېر مشهور سیاح ؤ، هغه په لاره روان و، نیږدې ماښګرې
شنه دښته وه د شفق سرې دا اسمان په لمنو خوره وه. چې یوه
پیغله جینۍ یې په شنه دښته کې ولاړه ولیده او هغه ترې تپوس
وکړو، چې دلته څه کوې. جینۍ ورته ووې ژوند ګورم! هغه
ورته ووې کم عقله ژوند لیده نه شي. محسوس کېږي؟ هغې ورته
په ځواب کې ووې: څه مسافره خپله لاره نیسه! اوس اوس د هوسیو
یوه قافله په دې لاره تېره شوه. هم دغه ژوند ؤ چې ما په خپلو سترګو

زه هم یوه ارزو لرم چې کاش په ما څولي ددې وخت سیلاني
دا سې پېښې شوې چې دژوند په تلاش کې وې چې ماورته وویلې!
په بدبخته سیلانیه که ژوند ګورې نو لږ زندان ته لاړ شه !! مــا
هلته لږ د یر وخت تیر کړی دی او ژوند مې په خپلو سترګو د یـــرد
نږدې نه لیدلی دی.

د جیل په یادونو کې یو یاد دا هم دی چې یوه ورځ د" انصـــاف
منا پیوری" زما ملاقات له راغلی وه او ما ته یې د مینې او اشنائی
پیشکش وکړ. ماچې هغې ته وکتل نو هغې په یو لاس کې تله وه
او په بل لاس کې یې توره وه. ما هغې ته ووې: ته دا انصـــاف
منا پیورنی نه یې ته د چکلی د مه یې: که ما سره مینه کول غواړې
نو دلاسه دغه توره ارتاوه کړه. خدای دې وکړی چې هغه دغه
توره ارتاوه کړې او زما او د هغې اشنائی د تل دپاره وشي.

دوهم یاد هم زما د ذهن په پرده کې شته چې یوه ورځ ناڅاپه په
جیل کې زما د یو دوست سره زما ملاقات وشو. هغه زما د پیچوت

پتوس وکړي په څه کې يې راوستلي يې ؟! ماورته ووې دستا په
ازادۍ کې ، هغه راته ووې : څه مطلب ؟ ماورته ووې : دوالله
نورپرې زه هم نه پوهيږم ) ماته پته نشته چې دغه دوست به پوهه
شوی وي او کنه ؟ خو زه پردې پوه يم چې صرف ازاد خلک
زندانونو ته ځي . پابند خلک خو په « ازادۍ » کې هم پابند دي.
هغوی هيڅوک زندان ته نه بوځي .

د زندان په يادونو کې نه هيريدونکي ياد زما د مور د هغه وخت
د احساساتو او جذباتو ياد دی کله چې ما پوليس جيل ته بوتلل
غواړي ، ما نو زما مور د غه وخت ډيره خفه وه ، ما خو په دغه وخت
کې هغه نه خندېدلی شي او نه ژړلی شي . زه هغې ته هميشه
وايم : چې مورې ! خدائې پاک د ژوند په دې برخه کې زه د يو
خاص پارټ پياره پيدا کړی يم . زه د هغه پارټ تکميل کوم ،
د دغه پارټ د يو سټار د سين ، تکميل به په جيلخانه کې
کيږي ، خفه کيږه مه ، ما په دواړه مخه ښکل کړه او ډيره په
خوشحالۍ يې رخصت کړه ځکه چې وخت نه د چا انتظار نه کوي .

په دې کتاب کې ما د امن سندرې ویلې دي ، ځکه چې زه د امن مبلغ او د امن خوښوونکی یم زه د دنیا په مخ د سرو ګلو نو چمنو نه لیدل غواړم . د انساني وینو سره سیلاوونه لیدل نه غواړم زه انسانان د پیداوار په حصول کې مشغول لیدل غواړم زه نه غواړم چې دوی د جنګونو په محاذ کې ووینم . زه د توپك په ځای د انسان په لاسونو کې قلم او د پیداوار اوزار لیدل غواړم .

ما د دوو جنګ عظیم او د دوهم جنګ عظیم تاریخ کتلی دی ، زما ذهن په پرده د غږ د کشت او خون نه ډك ظلم موجود دے . نو ځکه زما دا ارزو پیدا شوې ده چې بل جنګ دی نه وي په کار ، هیڅ کله نه دی په کار او همیشه د پاره نه دی په کار ، د دنیا تعمیر په کار نه دی دوی د حسن او ښکلا لوټوونکي ، د پوره انسانیت دښمن دی . تیوس کوم چې دا ارزو خو په جرم نه وي کسنه ؟ ځکه چې په تاریخ کې ما کتلي دي چې کومو خلکو د امن او ترقۍ خبرې کړې دي معتبر خلکو هغوی ته زندان ته لیږلي دي او هغوی ژوند د یر په زحمت کې تیر شوی دی .

دیوجانس یوه شپه د خپلې ښځې سره ناست وا او د ښځې د مقابلې د پاره ورکړه او ورهم نه وه نو هغه خپلې ښځې ته ووې ! پراخه چې گذرشو ! او دغه شان یې د ښځې د احسان په خاطر هغه شپه سره د ښځې په گذاتیر کړه او ځان یې گرم وساتلو او چې سحر د یونان په بازار کې لمرته تودیدلو، سکندر اعظم د هغه مخې ته ودرید . ورته یې ووې : زه سکندر یم وایه څه غواړې ! ؟ هغه ورته ووې : د لمر د مخې نه لرې شه ! زه پتاوي ته ناست یم .

مادر اجرز بیکن تریو او تریخ تاریخ ځکه لوستلی دی ، ما لوستلی دی چې فیوچل د پانسی رسی په خپلو لیمو ښکل کړه . د هغه قصور دا و چې هغه د جهان د پاره امن غوښتلو او د فاشیزم د ښمن و .

ځکه د یورپ تاریخ د دغسې واقعاتو نه ډک دی او هم د غو تاریخي واقعاتو د یورپ تاریخ ته ښلا ورکړې ده او نن پرې د دې وخت انسانان د علم متنده ماتوي .

په انگلستان کې د پاچا نمرود و بیدو د پاره او د کلیسا د وحشتو او رجعتي رول د ختمیدو د پاره د تاریخ د غو عظیمو خلکو خپل ځان د مرگ کومې ته پیش کړې او دغه شان په فرانس او جرمني کې د یوه علم او عقل خاوندانو

د زندان د تیرو ښکار شول چې هغوی رهنما غوښتله .

د غو د علم خاوندانو په دغه وخت کې ډېرې د کار خبرې کړې دي چې اوس موږ په هغو تنقیدي نظر اچوو، علم او عقل په وړاندې بیایو .

روسو په ډېر فخر ویلي وو چې انسان ازاد پیدا کیږي ، ولې معاشره هغه په زنځیرونو کې کړي او موږ په دې وخت کې دې نتیجې ته رسو چې فطرت انسان د ځان غلام ساتل غواړي، ولې انسان د فطرت د غه زنځیرونه ماتوي موږ هم کوشش کوو چې د زندان دروازې د تل د پاره ماتې کړو او یو داسې معاشره جوړه کړو چې انسانان هیڅ کله په زنځیرونو کې ونه تړي ، بلکې د انسانانو صلاحیتونه ازاد پریږدي چې پخپله معاشره پر وړاندې بوځي

هیګل په خپل وخت کې په ډېره وعده سره ویلي وو « څه چې معقول وي هغه حقیقي وي او څه چې حقیقي وي هغه معقول وي » ما ته د ده د اخلاقیاتو په فلسفه کې د ده د غه « معقوله » خبره ډېره نامعقوله ښکاري . ځکه چې د هیګل په نظر کې ریاست معقول و جیلونه د ریاست دېو اوزار حیثیت لري . نو ځکه ما ته د هیګل معقول شی نه یوازې نامعقوله ښکاري ، بلکې د هغه حقیقي شی غیر حقیقي هم دی .

د زندان په یادونو کې ما ته د ډاکټر لوتهر مائیر دا خبره هر وخت یاد یږي "چې د عظیمو خلکو شناخت په سختو او سترو کې کیږي".

لنډه دا چې د تاریخ په باب نظر واچوم ، نو به دې نتیجې ته ورسم ، "عقل جهالت ته ډیر شهیدان پیش کړي دي" او زه د هغه وخت په انتظار کې یم چې جهالت د عقل نه نور شهیدان ونه غواړي .

په دې کتاب کې ما د عشق او مینې غزلې هم لیکلې دي ، ځکه چې زه پوهیږم چې زما د سیمې ملایان به بیا زما په نظمونو کې د کفر ، گوري او په فتوا به د هغوی د خولې خوږه ضرور بې مزې کیږي . خو زه د دوی نفسیات پیژنم : دوی د حسن او ښکلا مینان دي . زما خیال دی چې د ورځې فتوې ورکوي او د خولې خوند به یې خراب شي نو چې د شپې د خلکو نه په غلا د زړه د تسکین د پاره دا غزلې ولولي او بې اراده زړونه یې ټکور کړي . ما هم دغه کولی شو او ومې کړه خو د دې په بدل کې د دوی نه یو خواهش نه هم لرم . او هغه دا چې د دوی عادت دی د زړې کوي انسانان د دوی د زړو ښکار وي ، نو زه د دوی نه خواهش کوم چې نور د انسانانو په ځای د زړې او گونګوونه په سرکښه فطرت وکړي چې د انسانانو د خدمت تابع شي .

د زندان د تیرو ښکارښول چې هغوی رښـــا غوښتله .

د غو د علم خاوندانو په د غه وخت کې د یرې د کار خبرې کړې دي چې اوس

موږ په هغو تنقیدي نظر اچوو، علم او عقل په وړاندې بیایو .

روسو په ډیر فخر ویلي وو چې انسان ازاد پیدا کیږي ، ولی معاشره هغه

په زنځیرونو کې کړې او موږ په دې وخت کې دی نتیجې ته رسو چې فطرت

انسان د ځان غلام ساتل غواړي، ولی انسان د فطرت د غه زنځیرونه ماتوي

موږ هم کوشش کوو چې د زندان دروازې د تل د پاره ماتې کړو او یوه داسې

معاشره جوړه کړو چې انسانان هیڅ کله په زنځیرونو کې ونه تړي، بلکې

د انسانانو صلاحیتونه ازاد پریږدي چې پخپله معاشره په وړاندې بوځي

هیګل په خپل وخت کې په ډیره وعده سره ویلي وو « څه چې معقول

وي هغه حقیقي وي او څه چې حقیقي وي هغه معقول وي »، ماته

دده د اخلاقیاتو په فلسفه کې دده د غه « معقوله » خبره ډیره نامعقوله

ښکاري . ځکه چې د هیګل په نظر کې ریاست معقول و چیلونه د ریاست

دیو اوزار حیثیت لري . نو ځکه ماته د هیګل معقول شی نه یوازې

نامعقوله ښکاري ، بلکې د هغه حقیقي شی غیر حقیقي هـــم دی .

او که نه تاسو خواه مخواه فتوې لګوئ : نو دا خیالونه زمانه دي دا د ساینس خیالات دي او که چیرې تاسو بدلګی نو د هغې په ځای چرګه مړه کړئ د فتوونو پې زما په ځای ساینس ته وارتوئ .

او اخیرکې مې د ومره قدر له خواهش دی چې خپل سوچ د دې اصولو متابع کړئ .

"دې ته مه ګورئ چې دنیا د چا ده ، بلکې دې ته وګورئ چې دنیا کې څه وشلي شوي دي". جنګ د ظالم او مظلوم ترمینځ دی . د ظالمانو او مظلومانو مثال دا وبواو د تارکولو دی . هغه هیچرته نه شي یوکیدی . د خدای دپاره په پردئ جګړه کې ځان مه غریق کوئ ، د دین خدمت وکړئ او دین د ظالمانو د دفاع دپاره مه استعمالوئ . د ظالم او مظلوم په جګړه کې د ظالم د توري هغه لاس ونیسئ چې د مظلوم په مرئ یې لګوی د خدای په خاطر مظلوم ورته ذکر یوان نه مه نیسئ .

زما هم دغه وینا خواهش ، او تمنا ده !

شمس نویدی

۲۷ـ دسمبر ۱۹۸۳

شهرل جیل سیدو شریف

دلوی خدای په امان

سکھ ، که عیسایي ، که مسلمان شم ، که منکر شمه

پوه مي ملا جاند کړه بشر که یم بشر شمه

دیر مي ستا آشنا ته سر ټیټ کړی بت کدو کې دی

لږه میکدې ته هغه خپل اشنا له ور شمه

ته چې خپل شهوت له غواړې حور و غلمان هیڅ ندوی

زه چې اوزې خپتی له د ودې غواړم کافر شمه

زه چې د ظالم خلاف راپاڅمه نو ستا په مینه

سمه لاره پرېږدمه ، په شاه لاره سر شمه

دالیونتوب ښه دی خدایږو کې هم بغاوت کې شته

لوی ارمان مي دا چې هم شغله شم هم شرر شمه

شلم ستمبر ۱۹۸۰

سنټرل جیل پېښاور

PROPERTY OF ACKU 2693

دیو تهمت به خای دې سل تهمته نور اولګی
موږ مینه کړې او س دې تول زموږ به کور اولګی
داسې خوره ورزما به غیږ کې راشه ، پریوزه
لکه چې ګل شي یا مې یا مې خور مخور ولګی
ستا به لیدو زما څیګر داسې ترهسکا شروع کړي
لکه چې او سکه چیرته وخاځي به اور ولګی
خوږې لمحې راځه رایادې شي به ترېخ ساعت کې
لیونی فکر يې وتلي وخــــت به لور ولګی
هغه مریم او زلیخا هم دعشق اور سوې دې
خیر دې به تاکه هم دشمس دمینې تور ولګی

۲۱ ـ اکتوبر ۱۹۸۰
بډابیرا پولیس سټیشن

نه ادیب یم، نه شاعر یم نه لیکوال یم

نه ادیب یم، نه شاعر یم، نه لیکوال یم
نه د خپل محیط د پېښو ترجمان یم
په کړه د حوادثو کې راګیر یم
سنه مې کار په زنځیر شته نه په زندان یم

که په ناروې، که په داروې پروا نشته
خو کتاب کې مې د دښمن تر ښه انشته

نه د خپل وطن د ونې یوه څانګه
بې له ونې د ژوندون نه مې ژوندګران دی
په فریب د ژوندانه غولیدی سنه شم
په والله چې مرګ تری نه خلداسان دی

نه خوارانوسته دروغ ویلی نه شم
د ماضی زړې قیصې، لیکلی نه شم

د باړو تو په لمبو کې سګون ګورم
په ټپوړ د لړبا مې څه کار نشته
سړ دار د محبوبې د غېږ نه خوږ دی
د پستو لیچو په خوب کې قرار نشته

چې ګوزارې د ظالم خوړلې نه وې
هغوی ژوند هډو بېخې لیدلی نه وې

زه شاعر یم د ظالم ثنا خوان نه یم
زه یې خونې او ماڼې نړول غواړم
زه د دې دنیا تعبیر او تفسیر څه کړم
زه خو دا دنیا بېخې بدلول غواړم

د دوستانو په تکل کې جهان ګورم
په حرکت او تغیر کې خپل ځان ګورم

دشمنشاد په دنګو څوکو لاړ شم کینم
د خیبر[1] انقلابي نغمې شروع کړم
د آموسنه پورې لاړ شمه په خیال کې
د ګوړکی[2] او د پوښکین[3] قیصې شروع کړم
خان خلمي کړم . فکر ځوان کړم بیرته راشم
د غمانو د ستم په ضد لګیا شم
ګیر چاپیره سرې لمبې دې ظلم زور دې
زه به د اسې وریت ماحول کې څنګ خاموش شم
زه پخپله ددې زورا و ظلم ښکار یم
د شرابو په نشو کې څنګ مدهوش کړم
زه به خپل قلم په سرو وینو کې رنګ کړم
د ظالم سره به مخ په مخه جنګ کړم

1 - شهید استاد میر اکبر خیبر د افغانستان انقلابي شخصیت او ستر ادیب
2-3 - د شوروي اتحاد نامتو لیکوالان

نه شاعر یم نه ادیب یم نه لیکوال یم
نه په داسې وخت کې چپ کیناستی نه شم
چه مظلوم تورن په لاس په جنګ کې بوخت دی
په قرار او په ارام خملاستی نه شم

زه یې مل یم په میدان کې به ولاړ یم
چه مې وینه تویه شی هله به ویاړ یم

ګیرچاپیره چې په خپل محیط نظر کړم
په ستیرو کې یو ځلا راته ښکاره شی
ارادونه د خوارانو چې مې پام شی
شم خوشحاله یو رڼا راته ښکاره شی

دا د ظلم زور نظام نه پاتې کیږی
دا د "چل فریب" «اسلام» نه پاتې کیږي

۱۳ - سپتمبر ۱۹۸۰
سنټرل جیل هری پور

نه د دلدار پروا لرم ، نه د دربار لرمه
نه په نشو د میو کار نه په خمار لرمه
څوک د رقیب ظلمونه     څوک د آشنا ستم یادوي
لکه ګنجي نه په سر تار نه په چا کار لرمه
د بل په طمع د اصلاح به ژوندون خړپړوم
زه په خپل زړه او ځان پخپله خپل اختیار لرمه
زاهد خپل فکر غوټه به نن صبا کې ګل شي
زه څه پروا د چا د ګل او د بهار لرمه
شمسه ! ملیان که د تقوي او پاکۍ ذکر کوي
زه پوهه شوې یم د دوی نه زړه کې خار لرمه

۱۲ سپتمبر ۱۹۸۰
سنټرل جیل هري پور

# راشه یاره راشه راشه

یووره شان کوتمه ده توره شپه ده
هشنغر دی هم مستی ده هم جمال دی
د تنگی (۱) مسته فضاده زړه راکاږی
باغی شوی راته زړه کاواکه خیال دی

زما زړه هم په توپونو شو تخنیږی
خدای زړه زړه یادونه را یادیږی
هغه هیر آشنائی بیا مخی ته راغی
د پنجری په خواکی ودریدی په مسکا شو
ما وی زه خولیونی یمه ته خه کوی
ده وی زه هم په «خود» ندیم په خندا شو

ماوی راشه چی د یو بل ندچاپیر شو
راشه راشه چی یوه پنجره کی گیر شو

۱ـ تنگی په هشنغر کی یو کلی دی

د زندان په ظلم زوروکي چې سا دېږي
چې په زړه مې "حوالات" کې راوريږي
خپله يارې بس يوه خبره واوره
چې يوه لمحه لدما نه نه هېرېږي

ته زما يې، زه د تا يم، د يو بل يو
ما او ستا به جدا نه شو وا زه خپل يو

زما ياره لږ به ستا وضاحت وکړم
سته زما د مود و عزم يې جذبه يې
زما ياره سته هلک يې سته جيني يې
ته زما د درد سيالي ژوند قيصه يې

راشه راشه چې ژوندون ته غاړه ورکړو
راشه راشه چې جنون ته غاړه ورکړو

تنګي (مشنغر) حوالات
۱۲ اکتوبر ۱۹۸۰

دا زولنې دا زنځيرونه ښه دي
وې دې - د جبر زندانونه ښه دي
ستا جبر گورم چې بې توان څوم زه دي
کوه ! کوه ! دا ستمونه ښه دي
د هر سوداغ نه به چراغ جوړېږي
د زړه د پاسه بې داغونه ښه دي
څه چېرته نور د خدای ساده وگوره
شيخه د وعظ نه جامونه ښه دي
شمسه هم دوې به سور سحر راولي
په غم لړلي ماښامونه ښه دي

۲۵ - اکتوبر ۱۹۸۰
سنټرل جيل سيدو شريف

په محبت کې دین ایمان نه منم

په غیر له تا نه بل جانان نه منم

دلته یو ښکلی شانِ بت لټوم

قیصې د حورو، د غلمان نه منم

ملا: قلار شه، سر مې مه خوږوه

چې غریبي شته بل شیطان نه منم

ما داوېلي چې تقدیر بدلوم

دښمنان وایي چې یزدان نه منم

شمسه! که سل وارې کافر مې کړي څوک

سمه خبره ده چې خان نه منم

۲۶ - اکتوبر ۱۹۸۲

سنټرل جیل سیدو شریف

# امتحان

زما د ذهن په دنیا کې یو طوفان پیدا شو
په تصور کې مې دلته دلته خیالونه راځي
لکه عقاب د اسمانونو په لمنو گرځم
لاندې چې گورم د دنیا رنگ رنگ ملکونه راځي

دغه یو ملک تاریخ چې خپلې خواته جام گرځوي
زما په ذهن کې قیصې د ننگ و نام گرځوي
هغه ملکونه چې ظلمونو ته هیڅ کله کړي
ما ته د هغه ملک «د ظلم» شهیدان یادیږي
چې په خپل زور یې د ظلمونو زنځیرونه مات کړه
ما سیلاني ته د تاریخ هغه نران یادیږي

هغه وطن کې د خدای چې ډک مځکونه وینم
د شهیدانو په گلدرته رو حونه وینم

داسې ملکونه چې پرې لوېږي د خوشحالیانو راج

ماته ددې لمرون کې پټې بلا ګانې ښکارې

خیر دې که داد شپو چې تورې تېرې خورې

ما ته په دې تیرو کې سپینې رڼا ګانې ښکارې

منم چې د لته به بیو خوشعې پېرزور تنې کړې

ولې په دې به حوصلې دلیونو جوتې کړې

زه هم پخپله داسې ملک داسې وطن کې اوسم

چې پکې راج د خوشحالیانو جرنیلانو رواج

چې په کې وینه د انسان ارزانه ګران شراب دی

چې په سر کړې دی جلاد په کې زموږ ملنه تاج

چې په کې یوسړی د ټولو خلکو رب جوړ شوی

خپل تعظیم غواړي د ټوپک په زور ادب جوړ شوی

ملګرو تاسو ما نه تنګ په هغه ځلاړه غواړې
چه په سړو وینو به په هر یو ګام مثال بلوم
په سختو ځلاړو کې چې عقل تمکین غوندې شي
هلته به زه خپلې جذبې ته دستا سو خیال بلوم

زه به دا خپل نشان په خپل ترونه دا نه هسک ګرزوم
که سر مې ځي خو دا نشان به چا ته نه ټیټوم

یا زانو یا خو به بې سره تنې لرې پروت وي
یا خو به دا ظالمان دلته کې سره نه وخوري
یا به زما په وینه دلته دیوالونه سره شي
یا خو به سپي ددې وحشیانو اندامونه وخوري

تا سو یقین لرئ چې یا به امتحان کې پاس شم
یا به د ترونه د قید او بند او مصیبت نه خلاص شم

۲۳ نومبر ۱۹۸۳
ښېرزل جیل سیدو شریف

راشه ، سرمې کېږده پرسینه ، درزړاند پوهه شه
وخت داسې ظالم دی چې ددې چېښیا نه پوهه شه
دغه د عذاب او د ثواب خبرې خوشې دي
داد زاهدانو ددې خپل گناه نه پوهه شه
چا ورته ویلي چې په زور ظلم به غلی شي
پاس د دار په سرمو ددې پو مسکاند پوهه شه
ای زموږ خدایه دا تیرې د نورې ځې تیختي
سره بخري الوزي د پړق رڼا نه پوهه شه
شمسه د شړوندون سندره دا به د مرگ خولد کې هم
پټ چرته مجنون شته د ښکاره لیلی نه پوهه شه

یکم دسمبر ۱۹۸۳
ښترل جیل سید و شریف

# دا زندان!

دا تیږي داګیر چاپېره تور سیخونه
دا ټوپک، دا سنګینونه، دا بوټونه
دا په فکر او په ذهن قیدغونه
دا بې وسه اسویلي ساړه آهونه
دا یو څو فته ځلکۍ دا سخا دالونه
دا ټیپر او دا کدوان او دا ساګونه
دا پولیس چه مو د سر پاسه ګرځي
دا چینجي چې په دوړو کې غوړزي پرزي
دا په جیل د ننه بل زندان کې بندیو
موږ ناست یو ټیزك نښکته ځي بهر ځي
باغ وحش (۱) کې راګیر لکه ګیدړان یو
په «میوزیم» کې پاته زاړه بتان یو

ا. عجائب ګر

خلکه واورئ چې زموږ گناه څه ده
چې بندې یو موږ کړې خطا څه ده
په تیرو کې د صبا سندرې وایو
د تیرو بچوړې وایې صبا څه ده

موږ په داگډ خپل زړه خبره وو
موږ نسیم ژوبلوته د ژوند سندره وو

چې قانون یې د خپل کور وینځو گټله
چې حیا یې د دې ټول وطن لوټله
چې د دین په نوم یې خیټه دکوله
موږ لوبه سپین میدان ته راوستله

دا قصور دی ، دا گناه ده ، دا خطا ده
دا سزا د دې بدل کې څه سزا ده
دا د ظلم زنځیرونه نه ټینگیږي
دا زموږ وطن به موږ ته پاتې کیږي

۲۰ - نوامبر ۱۹۸۳ ننگرهار جیل سیدو شریف

چې تدراً نغلی د زړه ګی پرکوړې غم وریږي
اوس یې خدکاږښتله کړه هرو رځ ماتم وریږي
یو تنهایي ده ، بل تیري دي درهیم ستا فراق دي
د زړه ګی سړه ! مایوسي په هر قـدم وریږي
غواړم چې ستا لیونۍ ستړګي په خپل زړه خښي کړم
خیردی کړه وینه تر ې جانانه دم په دم وریږي
ستا یو مسکا د زړه ډان ټولي ستومانی هیرکړي
لکه په ګل چې د شپې پټ غونډي شبنم وریږي
د ستړګو توره ! والله بی لتانه ګران ستړیږي
په زړه مې سختي تیروم کنه ستم وریږي

خه ستا د غم نه به مړه شمه سودا مه کوه
ستا دی د خدای په نوم قسم وی چی وفا مه کوه

زړه د زړه خه غواړم، خو مړه دومره پټ او پياله
چې زما مخکې د رقيب سره خندا مه کوه

زړه خوږ بيا کړې سترګې شکسته نا غرضه تير شوی
ما د رښتيا خبره کړې وه چې دا مه کوه

ته يې د زړو رنه خه خبر يې، دا يې ماتې يرې
چې نه راځي هسې لو ظونه د صبا مه کوه

شمسه! قلار شه، غلې کينه، آشنايي نه کوم
لاړې بيځايه هسې خلکو ته زړه سا مه کوه

ليډي ريډنګ هسپتال
پشاور

ځان سره په جنګ شم که جهان سره په جنګ شمه
دلته کې په جنګ شم، که اسمان سره په جنګ شمه
په ساقي ! ته شوم ستړولی اشناهم ما هیڅ نه شو
ستا سره نږه خبر کړم، که جانان سره په جنګ شمه
بیا مې نږه مستی غواړي، شراب غواړي، کباب غواړي
څه وکړم، توبې، که د ایمان سره په جنګ شمه
هغه د "خودی" مجسمه ده یو تاریخ لري
نه لیونی نه یم چې شیطان سره په جنګ شمه
مینه مې غالبه کړې اشنا مې بې قصوره کړې
پرې چې ورنه شمه، د خپل ځان سره په جنګ شمه

۱۵_ اکتوبر ۱۹۸۰
ورسک تاره کمپ

د زړسندا نو نو اخترونه موهم ولیدلو
د ډیرو «خلکو» ایمانونه موهم ولیدلو

هغه چې موږ یې د شلولو سوګندونه کړي
د ظالمانو زنځیرونه موهم ولیدلو

چې د لچه ملګرونوي حوصلې پرې باسي
هغه ظلمونه ستمونه موهم ولیدلو

ژړېدونکي د ډېرې مرحلې راشي او څې تیرې شي
د دښمنه کید وهغه کارونه موهم ولیدلو

هغه چې شمسه ایمانونه پرې د خلکو اخلي
د غد د مکر پیشکشونه موهم ولیدلو

۲۰- اکتوبر ۱۹۸۰
تنی حوالات

سپیره اختره! خوشحالۍ د هیڅ راوړې نه دي
ورځه په بیرته سوکالۍ د هیڅ راوړې نه دي

دخان بچوته چې نن هم زمونږ بچي پسخیږي
را ته نږدې نه شي زړېګي ۱، د هیڅ راوړي نه دي

هغه چې موږ اوخوړې نن هم مړه اېږ ته ناسته دي
هغو خوارانو له د الۍ د هیڅ راوړې نه دي

زه چاته خــنګه او په څه مبارکي ورکړمه
اخـــتره ! څه مبارکي د هیڅ راوړې نه دي

ته دیو څو کسو اخـــتر يې په بلا دي ولـــو
موږ غـــم لړلو لړ بنادې د هیڅ راوړې نه دي

موږ دي په کانو ولو، ته راته لا قدر غـــواړې
په نوم کډلوي يې خولېدلې د ي هیڅ راوړې نه دي

نه هم ورځې شمس هم د ځان سره ما نونه بوځې
ورک شي اخـــتره ! آزادي د هیڅ راوړې نه دي

هنتي هوالادب
دلوی اختر ورځ

---

۱- زړېګي = زړه ګي

# آشناته

ژوندکي داسې څوک شته چي هغه آشناوه نه لري ؟
داسې هو سنکلاستاونکی شته چي د ښکلا عکس پرې پرې
نه وځي ؟ داسې څوک ساعر شته چي حسن د هغه په جسم
کې داورلمبې تازه نه کړي ؟ داسې څوک وارت
دلداده شته چه جمالياتي ذوق و نه لري ؟
خپلې احساس ته داسې الفاظ ورکول چي نورکې هم
پټ بخري تازه کړي . زه کوشش کوم چي خپل آشناته
څه داسې څه وليکم چي د پټو زړو نو بخرې تازه کړم .
شمس

د زندان شپې دي او د ژمي يخ باد وند آشنا
زه گوزاره ستا جدايي کې په اهو نو کوم
ستاد ملالو ستر گو زاره شم هيريدونکي نه دي
د زړه په وينو ميلمستيا ستاد غمونو کوم

PROPERTY OF ACKU
2693

ستاسو یادونه مو کله یوانځې په ما او ربللې ږي

کله د شپو هغه یادونه تاته هم یادیږي

په خوله به چپ وو د محفل یاران به نه پوهیدل

موږ به په سترګو کې بلا بلا خبرې وکړې

هغه چې موږ به په «وروځو» د زړه حال ویلو

موږ به په دواړو اشارې دلرې لرې وکړې

وس تنهائي ده، جدائي ده ستا احساس کیږي

د زړګي سره اوس هر ستا له خوا اخلاص کیږي

چې ما او تا پرې د شریک ژوندون قسم کړې و

هغه مقام، هغه ماښام درته یادیږي کنه ؟

چې ما او ستا د پاکې مینې پرنام جوت کړې و

د سترګو توره هغه جام درته یادیږي کنه ؟

د وطن مینې ستا د غیرت نه زندان ته بوتلم

ایله په ژوند کې مینې سختې امتحان ته بوتلم

زما په تاباندې باور دی یاره پټ به یالي
ته به زما لاره څارې سخت انتظار به کوې

ستا د زړه کوټې په دننه هر ساعت موجود یم
چې زموږ مینه د میړې نوهخه کار به کوي

وختونه شمیره ستا اشنا به نن صباکې راشي
دعا کوه چې سړی هسک وي په حیاکې راشي

د زړګي سره غوږ نژدې کړه یو خبره کوم
په انګودې ګورې پام ګردونه پرې نه وزې

د غد ستا سرې شونډې د شمس د شونډو دي امانت
په دې دې هیڅ کله د غیر اهونه پرې نه وزې

زه به وختونه د زندان په شجاعت تیروم
کله سختې دیرې شي خو دا په غیرت تیروم

اشنا دالوظ به ترګه مرګه نه هېر وو
هر څنګه وخت چې راغي دا به په جرئت تیروو

۵ دسمبر ۱۹۸۳ سنټرل جیل سیدو شریف

په خوله خاندم، زړه کې ژاړم، دحالاتو نزاکت دی
هم رقیب شته، هم آشنا شته، څه عجیبه کیفیت دی
راته وګوره بنو کې چې زه وګورم مخ واړی (۱)
دا کتل او نه کتل یې هم ګیلې هم شکایت دی
د وصال حنزې پرېږدې وصال څه یوه لحظه وی
که خوانه د مینې ګورې په درد و نو کې لـــذت دی
په خپل زړه مې اختیار نشته، په ګناه او ثواب نه دی
ګنې دی کافرته کړې ما دا وعظ نصیحت دی
محمد، ساده شمسه! او ده شه، نه ژاړی وته براشی
دالوظونه قسمونـــه د خوبانو یو عادت دی

۲۲ - اکتوبر ۱۹۸۰
بالاحصار فورټ

---

۱- واړی = واړوی.

که د ظلمونو داستانونه لا باقي پراته دي
زموږ د زړونو ارمانونه هم شړونډي پراته دي
یارانو ! پام چې هر قدم مو په احتیاط پورته شي
دلته په لاره کې خواره واره ازغي پراته دي
چې د دلدار په زلفو کاږنه لړې دا رلیتوي
زمانه ګیر چاپیره هغه لیونی پراته دي
ته دروغ زړه قیصې کوې ، زه د رته څنګه کینم
ما ته ملګرې په زړه خوږ زخمي زخمي پراته دي

۲٤ اکتوبر ۱۹۸۰

بالاحصار غورت (قلعه)

د لوړې لاړې مسافر یم ما منزل ته پرېږدې
که په دې لاره کې اجل دی ما اجل ته پرېږدې

تا سود نه کېدو ښارې وهې ازل پیاده یې
ما د پېچلو مسئلو پېچلې حل ته پرېږدې

بیا کړه می وژنې ستا سو خو سبه ده، نو قتل مې کړې
د دارې په سر مې لږ د خپل فکر غزل ته پرېږدې

د وخت غټانو! ستا سو د ړنه نو ر څه نه غواړم اخو
چې تقدیر ونه بدلوی ما هغه چل ته پرېږدې

کدا اثر گورې د نغمو له شمسه څه پوښتې
لږ مې بې قیده د حالاتو چاپېر چل ته پرېږدې

۲۵ - اکتوبر ۱۹۸۰
بالاحصار فورت

ځي چې د تیرو کاروته شپول شو، صبا راولو
ځي چې د شپو زړه وچوو د لته رهنما راولو
لارې د کاروان چې شوکولو ته لوټمار نیسي
زړه چې دراسې رهــــزنانو قضا راولو
دوي چې که ظلم زور کوي "حساب کتاب" به هم مني
موږ به ورله هم «بابا» او هم به کاکا راولو
یه خلکه راځئ چې ددې خپل مرض علاج وکړو
نه کیږي په دوی، ځان له به خپل مسیحا راولو
تن چې د هر تن پټ شي ځیني غم یې هم وشي
ځي چې هغه راج شمسه په ټوله دنیا راولو

۲۵ - اکتوبر ۱۹۸۰
بالاحصار فورټ

# زما د شعر ملکې!

ته ما د ذهن په دنیا راوړسېد لیه خیاله
ته راته بیان د مستۍ د کې سندرې غواړې

دلته دې تړي ظالمان، دړته قفس جوړوي
ته الوتو له د عنقا غوندې وزرې غواړې

په دې گناه خو دې د ظلم زولنې کړې
نادانه ته د یار نه سرې شوندې شکرې غواړې

هغه خو ستا له خوا وړغلی جرگې هم نه منې
ته مړې خواب کې لیونیه نېنې خبرې غواړې

شپه ده، ناوخته دی تیري ري په قرار اوده شه
که شراب نه وي په یادو نو د خمار اوده شه

د غږ وطن چې ستا نه وینه اوسندرې غواړي
دوې بدل کې د زړه شرر تر ساله څه دی کوي
دا ته به څنګه وړته مال او سر په مینه پیش کړې
چې ستا نه فرهنګ غواړي، ستا څوونه نه دي کوي
تاسو به ولې د ده مدحې . قصیدې نه وایې
لوپ مارو! تاسو لد د لوپ وختونه بنه دي کوي
خوارانو! ستاسو که په برخه مشقت وي خیر دی
خو نظـــــــر و نه دوته هم کانه وازه دي کوي

چې څوک دې حسن زیاتوي، تا لد سنګار جوړوي
د لته هغوی له غم د سر پاسه بار جوړوي

نوري جذبې د پټېدو نه دي یو شور جوړ وي
تولې لمبې زړې کوي تر هغه لوی اور جوړوي
پولو پټنوکې، کارخانوکې، دا بختونه کسبږي
دا خپل قوت راغوندوي تر هغه لوی زور جوړوي

اوس ترینه هر غلیم شړی، تولو قسم خوړلی
دلته د مینې او ورورۍ مثالی کور جوړوی
نور دې تولو «نخرتونو» خاتمه اولی
د ظلم زور او غریبۍ ابدی ګور جوړوی

نور دنا ترسو ظالمانو خلکو ته باج ورکوي
دا هره ورځ د سړکونو احتجاج ورکوي

بیا زما خیاله او زاځه ژانه نظمونه غواړه
زما نه هر سحر وطن له سره ګلونه غواړه
بیا می قسم دی که چا دې وطن ته بد وکتل
وینې بیا ځکه کړې په ډلو ډلو سره نه غواړه
بیا سه لاسونه د وحدت په ګلکه مونیولی
بیا د غلیم وینې کوڅو کې سیلابونه غواړه

چې ازادي او خپلواکي زموږ په سيمه راشي
پسله هره دښته کې د جونوا شموږ غواړو

بېسابه د اتفاق او وطن د وارو ويښتيا مه شي
بيا به حياء او تقدس د هر سړي مه جا شي

زما د شعر ملګي! ما د غم جنګ ته پرېږده
ته و پښک زما قلم ما د سرو وينو غورځنګ ته پرېږده

۷ - دسمبر ۱۹۸۳

سنګر ګل شهيد و شريف

دګلابي شونډو مین اشنایان نور وګوره
دا شړي سترګو وېشتلي یاران نور وګوره

موږ خپل احساس له یوه نوې دنیا سره یوو
دګړمو «تو» پسته «سینو» عاشقان نور وګوره

چې جذبه نه لري بې مخې دي په سینه کلا هوښې
دجنګ میدان له بېړېدې ځوانان نور وګوره

که د ټوپک شپېلۍ ښکلې زما موږ چې له راځه
که مخ ښکلې د زړګي سره خوبان نور وګوره

تراوسه شمسه هر ستم دي په خندا برداشت که
لېږ د وحشت د خدایانو ایمان نور وګوره

۳۱ - اکتوبر ۱۹۸۰
هری پور سنټرل جیل

ستوري د مه شي ننګیالو ته لږه لاره پرېږدئ
د وخت اواز دی "سرخلمو" ته لږه لاره پرېږدئ

ستاسو د ظلم داستانونه موږ ډېر ولیدل
اوس د وختونو فیصلو ته لږه لاره پرېږدئ

چې یې قسم دیون خوړلی دی مرام ته درومي
همسو روانو قافلو ته لږه لاره پرېږدئ

چې پېهانسۍ رسۍ د سترګو به لیمو سنګلوي
لرې شئ د غولیونو ته لږه لاره پرېږدئ

هغه زړې خبرې لاړې ، بیا یې مه یادوئ
شمسه ! اوس نوو مرحلو ته لږه لاره پرېږدئ

٤ـ نوامبر ۱۹۸۰
هری پور سنټرل جیل

# وطن ته

د رومان د دنیاګی ښکلی منظر دی
سپینو واورو ښایسته کړی هر یو غر دی
ګوری ونی ابشارونه رابهیږی
د ننګوخوګو د سیالئ هسک کړی سر دی

ملایان چی د جنت خبری ستائ
ستا ښکلا ته کله رسی هسی وائ

سمر د ناوی غوندی ځان سینګار کړی
را ښکاره شی د کچه وونږو نو ښکار کړی
غورسکی غورسکی شی ورپیځی را خوری شی
سمر کړی پټ د رقیبانو غوندی کار کړی

پسرلی بادونه عجیبه مستی پیدا کړی
معطره د وطن ټوله فضا کړی

مسینان د شنو پښو پولو ته را شي
پیغامونه سترګو سترګو کې ادا شي
سره ګلونه د لالا او د غاټولو
د ښایست مخې ته وچوي په خندا شي

زه بدبخته لا د زړه په خوراك سړیم
خپل غمونو کې اخته په سېځاك سړیم

نه دده په نعمتونو باندې پوه شم
نه دده ښکلي تصویرې زړه راکاږي
نه په وینه د ښکلا په خوند اګاه شم
نه د خوب حسین تعبیرې زړه راکاږي

سرې لمبې زمانه ګیرچاپیره تاوږي
بلاګانې نه په "ما" دي نه په "او" وي

د غداور په سور گلشن کې بدلومه
شاړ د شنتونه په چمن کې بدلومه
داچې اوس یې په سینه غمان قابض دي
داوطن په خپل وطن کې بدلومه

ښاماړان د خزانو نه پاخومه
خپل یاران پسې د خوبه ویښومه

بیا به دا ښکلا زما د فن موضوع وي
بیا به دانغمې یونوي ژوند پیداکړي
بیا به زه هم ددې خپل وطن مالک شم
بیا به ژوند دلته یونوي خوند پیداکړي

د وطن اصلي بچي به خوشحالیږي
ما شومان به تول خوش بخته رالویږي

۸ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سپینه ژمي

چه د وخت د فیصلو په ضد ودریږی
لازمی ده چې به لوی کوهی ته لویږی

زوړ به نوی ته خپل ځای پریږدی قانون دی
په خواهش د چا د ذهن نه بدلیږی

چې د علم د ښمنی د سائنس توهین کړی
هغه قام د ژوند د تګ نه پاتې کیږی

د ژوندون تعبیر به بونه ځی به وړاندې
په حرکت او تکامل چه نه پوهیږی

نفی نفی شوی دا بل د دوره دی
خو بینا سترګی په دې قانون پوهیږی

فلسفه د لیونتوب اساس په څه دی
د دنیا د پیژندو درک پری کیږی

شمسه جنګ چې د محنت او سرمایې وی
د اقتصاد په انقلاب سرته رسیږی

۹ دسمبر ۱۹۸۳ ننګرهار جیل سید و شریف

مه رالېږه دا مسلسل غمونه
لږ به شي بيا په مستقبل غمونه

زما دا خپل غمونه هم پوره وي
د پاسه را شي د غزل غمونه

دلته انسان يې بل انسان له ورکي (۱)
چا وي چې وېشي په ازل غمونه

چې ما د ميني رود نيل ته دا شکل
په خپل قسمت کې يې ليکل غمونه

خوږه شنه تک راتک د دوا ورکيده
تا راليږل او ما زغمل غمونه

د ميخانې نه څنګ په خود بد راتلم ؟
ساقي جامونو کې لوتل غمونه

يوائې شمسه ستا خندا عبث ده
د دار په سر هم خنديدل غمونه

۶ دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جيل سيدو شريف

---

۱- ورکي = ورکوي

# نذیر عباسي ته

نذیر عباسي د انقلاب ستوری و . د وحشي ظالمانو د لاسه په
ټار چر کیمپ کښي وو ژل شو . هغه خپل سر خپله لاره قربان کړ د هغه
روح د حسن ناصر روح سره په ډیره خوشحالۍ یو ځای شو . د شهیدانو
فهرست لا مکمل نه دی د ا ستم د هغه په یاد کي لیکم دا د هغو تولو
ملګرو د پاره دي چي په دغه لار روان دي . شمس

د خپل وطن د ا نهاد ی او خوشحالي زیږي ېي
ستا د محنت نه د ی ملک په مخ شباب جوړیږي
ته د ښروند ځښنه ېي ، دامن خوشحالۍ نشان ېي
ستا حرکت نه د نن د تاریخ باب جوړیږي

د مفادا تو د یاران به د ی تر څو چپ کوي
دغه کاواکه واکداران به د ی تر څو چپ کوي

منم ستا چغه محلونو کې لــــــړزان راولی
څکه په دواړو شونډو دی تاله ماړوندلګی (۱)
ستاد نظر غضب په دوی داسې غضب راوستی
چې ظالمان د ړلد په ستر ګو هم داغونه لګی

دا زړولنې د احساسات جذبات وتړلی نه شی
دا انقــلاب سیل ته بندونه څوک تړلای نه شی

که ظلم زیات شی حوصله د زړه او چــته ساته
چې ستمونه د سرتیت نه کړی بې پته نه شی
د وی چې وحشت نه کوی وواید نو څه بد کوی
غرور د رمات نه شی د ښمن ته ملامته نه شی

ته به عمل داسې کوی چې ستاد استانی پاتی شی
چې تشدد د زړه څخه هم حیران پــاتی شی

---

۱- لګی = لګوی

د دښمن کار هم تشدد دی تشدد به کوي

چې ظلم زورونکړي دی هغو دښمن مه ګڼه

موږ لیوني ددې بدل کې داخواب د رکوو

که سرساتي هغه به دې لاره مین مه ګڼه

تشدد څه وکړي خو لا زموږ غضب زیات کړي

هر لیوني یا څې د خپلې پنجرې ورمات کړي

دغه نظام چې ورځ تر ورځه غریبي زیاتوي

دا به تر څو زموږ د مخکې تللو لاره ونیسي

ددې نظام تضاد به خپله دا نظام ختموي

داسې څوک شته چې د زمان د تللو رفتار ونیسي

دوی به ګلیاوی څوک د دوی په خوښه کار نه کوي

د سپوغیا ته کاروان چرته انتظار نه کوي

چیرته چې څاڅکي ستا د وینې چا بزدل توی کړي

هلته هغوی د خپلو وینو سور سیلاب لیدلی

چاچې په کوم ځای کې په تا د ظلم لاس چوت کړی
هلته هغوی پخپلو سترګو انقلاب لیدلی

ته د جهان د نهضت ساه یې د امید رڼایي
ته د وحشت د تورو شپو نه پس یو روڼ صبایي

نه پاتې کیږي نور هغه نظام روستي سلګۍ دي
زړګه خوښه کوي چې بره اسمان اوړاخستی
اوس خپل حقونه غواړي ستا یاران راوتي پسې
د سرمایې د لاکو د وړان اوړاخستی

زړه چې ستا ونیه بد دلته کې ګلان وټوکي
ستا هر یو څاڅکی به بلا انقلابیان وټوکي

۱٤- فروري ۱۹۸۱
هری پور سنټرل جیل

ته څه خبر يې بې له تا نه په ما څه تيرېدل
د زړه غمونه مې خوراك وو تنها څه تيرېدل
ستا انتظار د زړه وګوټ وښكته نه تيرېده
ظالمه پوه يې كړه اخير چې په تا څه تيرېدل
ما خو سوچونو انديښنو له ميلمستيا كړې وه
هيڅ خبر نه يمه چې پاس په زړه را څه تيرېدل
ما خو توبه وه د شرابو جام كې اور وو ته كسر
خوا كې مې شور وو د جومات په ملا څه تيرېدل
چا چې د يار شرابې سترګې وې ليدلې شمسه
نه څه خبر يې په هغوى به بېګا څه تيرېدل

۱۰ دسمبر ۱۹۸۳
منزل جبل سيدو شريف

د ژړمې باد دی ستا دعشق په ګرمۍ ځان تودوم
خبردې، رسوا دې شم، خو تول خلک پرځان خبروم
ستا د خیالونو سلسلې زما خوبونه دړې کړې
دورځې هم نه شم وزګاره ستا هر قدم یادوم
چاوې چې مینه د وصال نه پس سړه غونډې شي
زه خو زړګی ستا د سورکوشوندو پراور کړځوم
زه خو د مینې بندګي کړم عقیدې نه منم
که دین ایمان پرې خفه کیږي ځان ترې وس خلاصوم
زه خوشاعر یمه جانانه نور يې وس نه کیږي
خو بس تر مرګه به به تا باندې نغمې جوړوم

۱۰ـ دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

دمالی په سرو ګلونو زړه خون بـــېـــږی
او اشـــنا په خپلو شونډو خـخـنـه کـېـږی
دا ګلشن دی کنه خلکه قتل ګاه دی
چې بـــلـبل او بوراګان پـــکې قـتـلـېـږی
میکده ده خلك مســت دی جام یې نشته
یو سجده د رتـه کومه که قـــبـلـېـږی
په واعظه! ستا په وعظ به توبه کـــړم ؟
لـــېـونی د دوزخونو نـــه وېرېږی
ګورې شمس ته به بیا ندوانۍ چې بس دی
بـــیـــه ساده ! په دید دیدنو غوښوك مړېږی

۱۰ - دسمبر ۱۹۸۳
پرسته راجیل سیدو شریف

# دا دور؟

قتل عام دی دانصاف ملیکی ژاړې
بل یزید دی جوړ نوی کربلا ده
دکمخو و یښته خواره واره پراته دی
په وطن د جرنیلا نو ماړشلاء ده

لو یښتی دلته په خاورو کې پراتی دی
د وطن لونه د ویښتکی سری دی
دا ژاړه د فرنگی وفاداران دی
یو خونی لوبه یې کړې ده په «هند» کې

دا انسان د ویښو تږی دی، وحشیان دی
هغه لوبه یې بیا وکړله په «سیند» کې
جمهوریت چې په بنگال کې چاغوښتلو
یاد مونه دی په گولو بله یې ویشتلو

(۱) جلیانوالا باغ

د وطن واك د هغو په لاس كې راغى

چې يې تنده په نورو وينو سړېږي

د تنخور په پښتو يې تندى بوټ دى

دا انسان په قتلولو خوشحالېږي

عقل نه لري د حكم بندګان دي

فيصلې كوي زموږه حاكمان دي

هغه ملك چې د جمهوريت نوم جوړ شوى

نوم هغه كې د جمهور اخيستى نه شو

چې لكونه شهيدان موږ قربان كړه

د هغه ملك نه سر اخيستى نه شو

ازادي په كې غلامه داقا شوه

خوشحالي په محلونو كې پناه شوه

په دې د مظلوم اولس ترجمانانو!

په دې د خاوري اوقام دانشورانو!

د کتاب نه د عمل میدان ته راشئ
جنګ شروع دی د ظالم او مظلومانو

لوبه ګرمه ده د جنګ میدان تیار دی
خو فقط زموږ او ستاسو انتظار دی

څو چې د غدلوبه ورسوو انجام ته
د غه خلک به تیار کړو انتقام ته

چې تړون دوی دلته په نوی ژرنګ شروع کړو
چې حیرانه کړو دنیا خپل انتظام ته

چې قرضونه ددې خوار اولس اداکړو
پولی لاس او زړیږ مخونه په خندا کړو

۱۱ دسمبر ۱۹۸۳

رستم راحیل شهید و شریف

راشه راغلې وږمه د پېرساڼ دی
لږ به تاوده شي د موسم خوازه دي
د غړدوه شونډې به خوږاوږه ښکل کړم
نن د شرابو په توبو توبه دی
يه ساده! تر دې ورځې شرميږي
دا نه پوهيږي دا لا د پېروانه دی
يو څو خوږې خوږې خبرې وکړه
لا به شي څه د رته اريان پراته دي
شمسه چه تلو موسکې شوې ويل
دا بو نيريان خو به رښتيا ساده دی

۱۴ دسمبر ۱۹۸۳
شهزاده جميل سيدو شريف

دا بلبل چې په قفس کې نن چغیږي
د سپرلي د راتلو نخښې معلومیږي

د سپرلي انګازې خو شوې بیا ماتم شو
لیونو له زنځیرونه تیاریږي

ما خوښه کوي څه زه خو زوړ عادي وم
د زاهد زړه په والله ورته تخنیږي

ناز ادا یې یو طنز ته کړې عالمه
هغه سترګې لې رسا په زړه خښیږي

شمسه خپلې نغمې بلې کړه تېرې دي
دا دیوې به ترصبا پورې بلیږي

۱۵ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

نه سکون شته ، نه قرار شته ، نه ثبات شته
حرکته نه ژوندون نه کائنات شته
شعور خردی خود ز هر خاصیت دی
بی تولنی ني نه وده شته نه ذات شته
هر یو شی د خپل مکان زمان تابع دی
د تاریخ د هر یو دور بیل صفات شته
هر یو خیز په بل یو خیز پوري مربوط دی
د فطرت هره ذره کې جدلیات شته
سکون هم یو نسبتي غوندي وقفه وي
شمسه دي کي هم دننه علامات شته

۱۶ - دسمبر ۱۹۸۳
نهر لاحیل سیدو شریف

# خوارانوته

په زحمت کښو به د خپل ژوند نږدې لېرې خلکو!
تاسو به کله د غفلت د خوبه سر چوته وئ
تاسو ثروت پیدا کوئ په خپله غم کې اوسئ
ترڅو به بل له د غم پېټی لکه غر چوته وئ

دلته غربت خورېږي هلته کې دولت غونډېږي
پدې سماج کې د محنت صلاحیت خرڅېږي

مادي دولت پیدا کوئ د ژوندانه د پاره
خو خپله تاسو له دې هر څه نه محرومه اوسئ
بل پېټوئ په تن د بل خېټې له کار چې کوئ
. اخـــر پخپله به نهر بربنډ تر کومه اوسئ

د وخت اواز دی چې راپاځئ او میدان ته راشئ
ترڅو را واخلئ د میراث اهتمان ته راشئ

تاسو شپه ورځ محنت کوئ د زړه وینې پرې غړې
غمان په هغو پړو تاسو له لاسونه تړې
د خپل بچي قدم په زړګه ورته کښېکاږې
ستاسو بچو له دوی د را نه د زړانه پښوونه تړې

په دې لې صبر نه وی ستاسو عزتونه لوټي
د پېغلو پېغلو بې د زړه غیر عصمتونه لوټي

دا ستاسو ښځې د بېبیانو په خدمت ستړې شي
ستاسو د ګل غونډې ځوانې د خان بیګا خاورې کړې
که سر غاړه دی، که ږلۍ وی، که باران ورېږي
خوږ ندګی مو دولته تو له ورځې کار خاورې کړې

دا خه ژوندون دی د دې ژوندانه بغاوت په کار دے
د دې نظام د واکدارانو نه نفرت په کار دی

جهان بدلیږي دا مو وخت دی ورته پام بدل کړې
راپاڅی خلکو د وطن د غدر فضا واړوئ
چې په کې تاسو مړه یئ د غم نظام بدل کړئ
دا خندا ګانې د غمانو په ژړا واړوئ

انقلاب ستاسو د بقاء او د حیات لاره ده
دا د خوارانو د خلاصون او نجات لاره ده

یو ځو سرونه صدقه کړئ سو نښان اوچت کړئ
دا بدبختي به مو په ډیرې خوشحالۍ بدل شي
د زحمتونو وخت به تیر شي، انقلاب راولئ
دا غریبي به مو په زیاتي سوکالۍ بدل شي
راپاڅی یه خوارانو د لته کې خپل راج جوړ کړئ
د انسانانو د ارزو هغه سماج جوړ کړئ

چې بې انسان یکې د بل د بندګۍ نه خلاص شي
چې غریبان یکې د غټ د محتاجۍ نه خلاص شي
هغه سماج چې استحصال یکې د خلکو نه وي
چې د وطن بچي مدام د غلامۍ نه خلاص شي

دا سې سماج کې به د ژوند په حقیقت پوه شئ
ایله به بیا درې دنیا په خه لذت پوه شئ

۱۸ فروري ۱۹۸۱
سنټرل جیل هري پور

## قطعه

لاس اوپښې مې دواړه وتړه ظالمه!
زما تا به ترحسرکته پورې جنګ دی
چې مې ساه په تن کې وي خلاصي دې نشته
زما ستا به ترقیامته پورې جنګ دی

۱۶- دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

ستا دِرد تشې خولې لوظونو باندې اوړې پوړې شي
زما دې هم سړو اهونو باندې اوړې پوړې شي

چې د آشنا د اوربل ول له پکې ونه رسي
د دې سپرلو دې په ګلونو باندې اوړې پوړې شي

دلته چې زړه د ستمونو په تنورکې سوزم
هلته دې ستا په جنتونو باندې اوړې پوړې شي

زړه به مې هله شي خوشحاله په قرار به کېنم
چې د زاهد په کتابونو باندې اوړې پوړې شي

هغه به لا خوند ونه واخلي هیڅ خفه به نه شي
شمسه که ستا په ارمانونو باندې اوړې پوړې شي

۱۲- فروری ۱۹۸۱
سنټرل جیل هری پور

پوهه نه یم چې په څه مرض اخته یم
چې لیلا رهشم ستا کوڅې ته په ستنه یم
دا شراب وه، که نشه وه ستا دسترګو
چې تر اوسه پورې هغه شان نشه یم
ویم که نن نه وي، اصبا ته خوبه راشي
ځان په زور غولوم زه خوم ساده یم
چې د شونډو پورې راشي ادا نه شي
زه هم دغه رنګ نیمګړي شان ګیله یم
عاشقان چې په زړه اوبم کې وایي
شمسه ستا د شاعرۍ هغه تپه یم

۱۳ - فروري ۱۹۸۱
نهرل جیل هسپتال پور

نامه دې ږدک محفل کې وواېږد اشنا واخلمه
کنه دېدن دې هم دخلکو نه په غلا واخلمه

چې هر ساعت وي خوبولۍ دخمار د کې وي
جانانه! ستا دشرابي سترګو بلا واخلمه

شونډې نږدې کړه چې لږ اوږمې ترې ګوګل تدلاښتې
چې خیل زړګی له دغمونو مشغولا واخلمه

که په جنت کې دآشنا بدل کې حورې را کړي
زه به ودوزخ ناصحه خدایږو په رضا واخلمه

که داسې کېږي ذمه وار یمه په دواړو سترګو
شمسه! په خیل سر به دهر ښکلي ګناه واخلمه

۱۵ فروری ۱۹۸۱
سنټرل جیل هری پور

قلار شه په ساده ، خاموش شه ګیلې چا ته کوې؟

دلته کي څوک دي ته د زړونو قيصې چا ته کوې ؟

زړه لیونی خو په ثواب او عذاب کار نه لرم

ته د ثواب او د عذاب مسئلې چا ته کوې ؟

هغه دي وینو څښونکي ناست دي سلاګانې کوي

خوارښې کم عقله د زړه سوې وسیلې چا ته کوې؟

دلته خو ټول د سره ټیټ دي لږ په هوش کې راشه

جلاده ! ته د ژوند او مرګ د ړکي چا ته کوې؟

هغوی خو ځان په زور او وده کړه د ستم لړ ویري

شمیسه ! د دا ړسره سوې مصرعې چا ته کوې؟

١٦ فروري

سنټرل جیل هري پور

# فرانس

د فرانس انتخابات وشو. د فرانس سوشلست پارټي د فرانس د کمیونست ګوند په ملګرتیا د بورژوازي نماینده "دستګارد" ته ماتي ورکړه. سره له دې چي فرانس سوشلست ګوند پروګرام به هغه څه ونکړي کوم چي کول په کار دي. د "نیتو" په مخ به انقلابي سپیره ونکړي، ځان به د عالمي سیاست په ټول کي د "پیس کیمپ" په تله کي وانه چوي ولې بیاهم د غه انتخاباتو په نتیجه کي هغه قواوي منظبوتیږي، پیاده کیږي. کوم چي به ضباهغه څه وکړي چي به کول په کاروي، د سرمایه داري جنګ به ګزار کړي او د انسان لاسه به په انسان استحصال ختم کړي د پرس کمون د شهیدانو وینه به رنګ راوړي. په یورپ کي به دامن نبا پیږي

دامن د نغمو سره میدان ته راشي ۱۲ـ می ۱۹۸۱ سنټرل جیل هری پور

د سرهایي په یوه بله موړچه د ټرې وشوي

د فرانس کوڅو کي د خوارانو اتموڼه جوړشول

چي ظالمانو وه په د یره بې رحمۍ توټۍ کړې

د هغې سره وینو نه نن هلته ګلونه جوړشول

زحمت کښانو خپل منزل ته نوی گام واخیستو
زن دکمون د شهیدانو انتقام واخیستو

د فرانس کوڅې په سرو وینو تکی سرې ښکاریږي
زن د والتیر او د روسو روح په گډا ښکاریږي
چاچې د فرانس د تاریخ خیته کې بدلون راولیده
هغه زران پال به په لحدکې په مسکا ښکاریږي

اوس خو اپله منزل ته لاره زخندان لري شول
اوس خو اپله د سیاست نه نوابان لري شول

داسې ماران سرمایه دارو په خپل بین را ویښ کړه
چې اوس یې دوی پخپله هم قابو کولی نشي
اوس دیوبل لویې انقلاب د پاره لاره خلاصه شوه
چې د دنیا هیڅ یو طاقت یې بندولی نه شي

د شیشو ښار به د جهان دامن کور جوړ شي
دلته به بیا دانترنیشنل نغمې شور جوړ شي

زه هغه عکس نن د دې شیشې په مخ کې وینم

هغه عظیم بدلون د دې بدلون آثار کې گورم

د فرانس عظیمو خلکو زه د رټه سور گل درلیږم

زه د رټه زړې د روښانه مستقبل درلیږم

۱۲ می ۱۹۸۱

سمندرل جمیل هری پور

## قطعه

میکده کې د غم شور او شر د څه و

د ساقي اخیر په څه دومره په قارو

څوک ساده ناصح را غلی و د نن

مسئولیت یې زره شوی و وزگار و

۱۷ - دسمبر ۱۹۸۳

سمندرل جمیل سید و شریف

د سماج دارتقاء په راز اگا یم
د هغه تکمیل کوم په جار گویا یم
تاریخ خلک جوړوي محصل یې دوي وي
پوهیدلی زه په رول د رهنما یم
چې علت وي نو معلول به خواه مخواوي
د تولنې د رغښتونو مسیحا یم
هر بنیاد خان ته خپل شکل لري خلکه
د بنیاد په بدلولو کې لګیا یم
چې شعور د محنت کښونو راندې بیا یې
شمسه زه هغه او زه هغه رښا یم

۱۷ـ دسمبر ۱۹۸۳
سنزل خیل سید و شریف

تر اوسه هم زمونږ نه ډیر حقیقتونه پټ دي

لا په سینه د کائیناتو کې رازونه پټ دي

یو حادثه غواړي چې برق وکړي بل چل پیدا کړي

پاس په تجلو کې غلي غلي تندرونه پټ دي

شته څوک چې راشي څپو کې د زړه لوبخه وکړي

په دې ایرو کې هم بڅرې هم اورونه پټ دي

چې د چالاکۍ پرې بلوسید و تیر تخیل وس نه پرېږدي

دا زغو زړه کې د کلونو ارمانونه پټ دي

چې د عزت او د نفرت په دنیا اور پورې کړي

شمس سینه کې مې یو څو داسې اهونه پټ دي

۲۳ - فبروري ۱۹۸۱

سنټرل جیل هري پور

د زړه اهونه د حالاتو چاپېر چل کې ورک وي

لکه چې داغ هم د لالا د ده په ګل کې ورک وي

ستا په ليدو لکه د بت هسې خاموش ودرېږم

يا لکه دم چې په موقع منولي غل کې ورک وي

په قلار کېنه، خدای دې مل شه، ما خپل کار ته پرېږده

ستا غونډې ډېر دلته د زلفو په ځنګل کې ورک وي

هغوی پوهېږي نه چې کار په جد و جهد کېږي

ډېر ساده ګان ځکه په فکر د ازل کې ورک وي

يا خو جفا د محبوبې ده يا ربيار چغل دی

شمسه خوانه چې دې د مينې په غزل کې ورک دی

۲۷ فروري ۱۹۸۱

سنټرل جېل هري پور

ما ته ستا مسکا ښه ده د حور و د خندا نه
ستا ادا مې خوښه ده د ډمو د ګډا نه
وصل کې ګناه ته کتل ډېر بې خوندې ښکاري
ښه ده دا تیاره جانانه ډېره د رڼا نه
ښه دی کفر ښه دی د "دیسي مسلمانۍ" نه ډېر
زړه خُله «امي» ښه دی د دې وخت د ملا نه
زړه د لوږې مرمه په مرداره په حلاله څه
ته لا وزګار نه یې د روا او ناروا نه
هیڅ به نه شي سر د خټو ګټو دیوالو نو ته
ز ویریږم دې کې د سزا او د جزا نه

یکم مارچ ۱۹۸۱
سنټرل جیل هري پور

اوس به ګلونه وشي هر بوټي سپرغۍ وکړلې
زما د «خیال چمن» پخپله هم غوټۍ وکړلې

چا بندولی شوه په زور د سپرلو مخه ورته
هسې عبث ساد ګانو پېرې خوارۍ وکړلې

د دښتې ورځې ارمانې وُو ، خو امو یخه کړله
چې په سرو نومو میدان کې جوارۍ وکړلې

سر مې د هر یو باداره هرې دروازې نه ټیټ شو
نه یې نخرې زماندې دې غریبۍ وکړلې

ما خو ویل چې خاموشي به احتجاج شي شمسه!
خو دا مصرعې زماندې خپلې شاعرۍ وکړلې

۸ ـ مارچ ۱۹۸۱
سنټرل جیل هري پور

سوري سوري ، زخمي يم د ستم له لاسه

خلكه ! قرار به څه رنګ وكړمه د غم له لاسه

تا سودا وايي دلربا به چې په زور حصار كړي

زه خو دا كور كلي پرېږدمه د صنم د لاسه

چې ته راځې هسې بې ځايه سوګند ونه مه خوره !

ته وې به شې خوار شې د دروغو قسم د لاسه

څوك د جفا د لاسه ژاړي ، سر تندي ټكوي

زه ليونى شم د جانان د ظلم كرم د لاسه

شمسه ! د زور خبره نه ده ، د رضا سودا ده

زه وارله خم د دې خپل فكرا و قلم د لاسه

١٠ ـ مارچ ١٩٨١

سنبل جميل مهري پور

عجیبه وخت و نن خفه وم ، تا خندا گوله
زما په هر خواهش به تا دلبرۍ ناکوله

از غوبه خود زما الحن ، زما گریوان شلولو
ما د زړه سر ! دګلو نو تمنا کوله

زړه دا انجام نه سنه خبر یمه چې څه به کیږي
خو بیا مې هم دخپل سرتیرۍ زړه رضا کوله

سنه ده چې دا فرښتې زړونه او ځواني نه لري
کنې نو روې به په ځواني کې هم ګنا ګوله

هغه یخپله خپل علاج له بل طبیب لټوي
موږ نه ترې هسې توقع د مسیحا کوله

مخ یې کوشه کې وارولو ، هیڅ پرې پوهه نه شم
چې نیت یې بد و ، که زما نه یې حیا کوله

اخیر شنکاره شولېنو تب او مینه نه پټیږي
شمسه دخلکو نه مې دیره موده غلا کوله

۱۲ - مارچ ۱۹۸۱
ستنګل جیل مری پور

تو دوخته راغله او باد ونه د بهار پيدا شول

اوس په ګلشن کې د بدلون ښکاره آثار پيدا شول

واعظه ! دا درس نه منم عبث لګيا يې

چې دا زلمه دوې غټان شول ، موږ خوار پيدا شول

دوينې وخت کې خو په غيرزموږ نه هيڅوک نه وو

د ګلو وخت کې د چمن بلا ماليار پيدا شول

اوس به هم خلکه اسرافيل چيله شپيلۍ نه پوکې

چې د حيا او عصمتونو خريدار پيدا شول

د وينو تېرې دې لګيا دي ، چيله تنده سرې

ستا په دنيا کې خدايه د غسې خونکار پيدا شول

۱۳ـ مارچ ۱۹۸۱

سنټرل جېل هري پور

شونډی راکه، ږړګی واخله، څه چي وکړو دا شو دا

که ازره پسی ځد غوارې هغه ورا فیـــــــه صفا

زه شاعر د خپل چمن یم، تر د دې وطن بنګلا

د زړه سره خوند به وکړی حسن ستا فـــکر زما

که تاج اخلی سر به ټیټ کړی هر څه د پردې دلته بیا

که شمله اخلی سر جګ وره - وایه دا اخلی که دا؟

(۱)
سلیمان بلقیس اخیستی، بدهر وانه خیسته مارا

وایه کوم یو خدای پرست وه د دې دواړو کې رښتیا

عجیبه غونډې قیصه وه، عجیبه غونډې فضا

شمسه دلته په یو کور کې هم خنداده هم ژړا

۱۴- مارچ ۱۹۸۱ سنټرل جیل هری پور

---

(۱) Mara of daughter یوه دیره ښکلې ځینۍ وه . بدهر ته پیش کش شوې وچي ځواخلاد لار پریزده . د مارا حسن ګوتم بدهر د څه ساعت د پاره حیران کړی وو چي څه وکړم اخیر هغه د دیر سوچ نه پس یې د مارا نه مخ واړ ولو او ځنګل ته لاړ شو .

پرېښانه زلفو دې بلا پرېشان خيالونه جوړ کړه
يوه مسکا دې نه وه، موږ لره دې غمونه جوړ کړه
ګورې چې بيا د چا بدبختو نن سيته پوره شوه
بيا يې اوربل کې عاشقانو له قبرونه جوړ کړه
سپېڅلوا غېږې وکړې، هر خوا ليونتوب پيدا شو
دې ظالمانو وړته نوې زندانونه جوړ کړه
اول خو ما په زنځيرونو باندې کلک وتړې
زما سينه کې احساساتو غوږنګونه جوړ کړه
که د جهان جواهرات راله چا شمسه راکړه
ما به ترې هغه وخت آشنا له اميلونه جوړ کړه

۱۵ - مارچ ۱۹۸۱
شهزاد جمیل هري پور

# تپوس

لیونی فکر می باغی شو کائینات لټوی
د تخیل نه وزری الوزی پرواز کوی
د زړه اهونه می راولړزیدل لاره ګوری
لکه چی مست ملنګ په چرسو کی اواز کوی

زه هم یو دوه خبری نن د زړه د تل نه کوم
ګناه به وی، خو دا د وخت چاپیر چل نه کوم

یو خوا دا دنګ سپین محلونه چی اسمان ته رسی
بل خوا په خاوره کی بی کوره په میدان پراته دی
یو خوا وطن چی د دنیا د نعمتونه ډک دی
بل خوا داوږی ټوک ډوډی ته په لوږان پراته دی

پښتنی ابله پښتنی سرتوره ورځ ربه ګناه د څه ده
دا غریبی دا بدبختی اخیر سزا د څه ده

خدایه چې زه د هغې خلاف اواز پورته کړم
ستا ملایان راپاڅي ماته سور کافر ووايي

چې زه ویم (۱) دا تقسیم د خدا اندې دا لوی ظلم دی
دا لیونی راسته د تا د ذات منکر ووايي

زه داسې ویش نه منم، زه داسې نظام نه منم
زه یکې یو انسان د بل انسان غلام نه منم

خوا ګوره ته که هم فقط د دې غمانو یې، بس
بیا خو دې سوی او سویلو ته به لېرځان تیار کړې

کنه، که ته زموږ او دوی د ټولو یو شان یې او بس
بیا به زموږه فریادونو ته لېرځان ونګار کړې

خبره سپینه ده په دوه خبرو کار نه کېږي
ستا په جهان کې نور زموږ نه انتظار نه کېږي

۲۱ - ستمبر ۱۹۸۱

---

(۱) چې زه ویم = چې زه وایم

چې يو تول او تول ديو ديپاره كار كړي
هغه قام به ترقۍ نه څوك حصار كړي
چې انسان د بل انسان رفيق او رور كړي
هغه ملك به څوك د ژوند په تنګ كې خوار كړي
رهنما او رهبر د غسې په كار دى
چې دا وران ويجاړ وطن ته له تيار كړي
څوملګرى دا سې ګورم چې ته شته دى
چې وطن د دې لسيوانو نه وزګار كړي
شمسه ! بس د ظالمانو وخت په تلو دى
دا وختونه چا ته كله انتظار كړي

۱۸ - دسمبر ۱۹۸۳
ستمرا خيل سيد و شريف

مه ښبنه، مه ښبنه د زړه سرداسې ښې دی
د غد سترګې خوبې میوهــــم نشې دی
ځواني نه ده، لیونتوب دی، خودسرې ده
د خالق په ځای بتانو ته مسجــدې دی
ای د حورو په خیال مستو! خاخبر کړی
د آشنا د غیرې ښې تر ټینه خوږې دی
یه ساقي دا ستاکرم مې کولمې سـیزی
شراب نه دی، په پیالوکې سرې لمبې دی
هم غربت، هم خودداري، هم شاعرې ده
شمسه د غد د دې تریخ ژوندون قیصې دی

۱۶ - مارچ ۱۹۸۱
سنټرل جیل هری پور

په کومه خوله ورته وي نظام خبرې کېږي

په سپینه ورځې دلته د ماښام خبرې کېږي

دا څومره ساده توب دی د زندان او دار له ویرې

لګیا دي «لیونو» ته د ناکام خبرې کېږي

محفل کې د کم ظرفو د بختونو بازار تود دی

اغاز کولی نه شي ، د انجام خبرې کېږي

څه شته دی د اسکون جوړې ماتېږي نن صبا کې

کوڅو کې د وطن یې د ویتنام خبرې کېږي

ته هم په شاعرۍ کې ورته شمسه! تاو پیدا کړه

ملګرې شو تیار د انتقام خبرې کېږي

۲۴ مارچ ۱۹۸۱

سنټرل جیل پېښور

زموږه ژوند دې په خوارو مصیبت کې تېر شی

خو چې د نوی کول ژوندون لږ په راحت کې تېر شی

د دوزخ نو سرې لمبې د موږ ستی ، ستی کړی

خو چې وختونه د بچو مو په جنت کې تېر شی

زه تقدیر و نه بدلوم د ازل لیک وړانوم

ستاسو ټول عمر به په طمع د قسمت کې تېر شی

زما ارمان به هله ورېږي په ملګرو

اخېری ساه چې مې په لاره د بغاوت کې تېر شی

د غه خونی لیوان چې شمسه د سماجو ړنګ کړو

هله به عمر په حیاء او شرافت کې تېر شی

# «د آزادۍ په ورځ»

حق که غواړې د لته غداړې ده، هم ګناه سنګین
دا عجب وطن دی، نه قانون شته نه دده آئین

دا څه ازادی ده چې څه خوري اوڅه دلوږې مري
دې ته ازادی ویل والله د ازادی توهین

د لته پابندی ده په ضمیراو شونډومهردی
ګرنجې دضمیرخاوندان دربه دردلي غمګین

ذکر که د روس دې په مثال کې وکړوجیل ته ځه
هیڅ نشته خووایه قصیدی د امریکې او چین

د لته کې رښتیا ویل د کفرنه سوا ګناه
شمسه ! په دروغو سرکارکوه رښتیا یقین

۱۹۸۱ اګست ۱٤

غازی خانی

په غیر له مانه به په تا وختونه ځنګ تیریدل
د جدائی د شپو او ورځو پیرونه ځنګ تیریدل
ته څه خبر یې د زړه سره دا په ما ستیریدل
ستا د وعدو او انتظار ساعتونه ځنګ تیریدل
موږ لیونی خو یې د وېرې نه زندان ته بوتلو
راوغو ! په تا سود بهار بادونه ځنګ تیریدل
هره ګړۍ د زړه کوټې ته لیونی ګرځیدم
جانانه واوره چې به ستا یادونه ځنګ تیریدل
شمسه ! چې وچه خوله راتلې د میخانې نه کوره ته
اخیر د تا په خواکې د ډک جامونه ځنګ تیریدل

۱۵ ـ اګست ۱۹۸۱

غازی خانی

یو څو ګیلې وې د زړه پرلې مې، خو چې پاتې شوم
د زړه خبرې وې ویلې مې، خو چې پاتې شوم
ستا خوږولې اننګې سترګې نشې خوروي
دغه نشې را پېتولې مې، خو چې پاتې شوم
دا ګلابي، دلمبو دکي، دغه سرې شونډې دي
د زړګي سره سپکولې مې، خو چې پاتې شوم
دا ستا حیا را باندې ګرا نه ده خدای ګواه دی
د دار په سر هم یادولې مې، خو چې پاتې شوم
شمیمه! دې خپل عقل په مینه کې د وکه کړه ملګرې
کنه په غېږ کې رانیولې مې، خو چې پاتې شوم

۳۰_ اګست ۱۹۸۱
سیدو کمتل (صوات)

دغه سجدې مې ماته دې اوکنه

جانانه مینه اوس منې اوکنه

ماته دې تش لوظونه هم پوره دي

خیله دې خوښه که راځې اوکنه

زما د لاسو او پښو نه دم وختو

دوا د مینې راکوې اوکنه

هغه زاړه زاړه خوا به میا دونه

وایه هغه دې یاد دې اوکنه

چې هم آشنا وې، هم شراب وې شمسه

وایه توبې به ماتوې اوکنه؟

۲۲ ـ اګست ۱۹۸۱

(نمازي خاني)

هم غربت دی هم ستم هم احتجاج دی
د دې ټولو وجه دا ظالم سماج دی
سکون چرته آرام چرته قرار څنګه
په هر ځای کې د خوني لیونو راج دی
لوټ یې کار، ظلم یې فرض د ژوندون دی
هم قاتل دی، هم قاضي عجب رواج دی
څنګه امن، څه به مینه دلته راشي
یو انسان دلته د بل انسان محتاج دی
دا نظام د زور او زرو چې چپه شي
د دې ټولو بدبختو واحد علاج دی

دا سپیرې سترګې دې ټولې شي خپل ځان ته
چې ضرور به رسي زما جانان ته

ما خو تا ته وُو کتلي غنیمت وو
زلزله کې لیونو کتل اسمان ته

داد ښکلو جوارې ده زړه بایله شي
یه ساده یې دي کې خوک ګوري تاوان ته

خلک وایي چې یې مخې بې وفایې
څه، چې دا یې خور وایس کړه ټول جهان ته

ما ته خپل ګناه معلوم دي ساده نه یمه
زه نځمو راوستی یم شمسه! زندان ته

۱۸ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

ځوک چې د وطن د ناموننګ جنازه وباسي
د وني به خلکه! ښکنځه د فرنګ جنازه وباسي
دالمبې د قهر ستړومه ، امن ګورمه
نه داسې جنګ غواړم چې د جنګ جنازه وباسي
دا دنيا يې خدايه که عثمانولره جوړه وي
ړاندې شي اجل چې د ملنګ جنازه وباسي
بيا د دار په سر د ليونو تماشه جوړه شوه
شمعه بله څه شي ، د پتنګ جنازه وباسي
شمسه وخت نيوس کوي د ټولو پښتنو نن
ستا ځوک خوشحال خان چې داورنګ جنازه وباسي

۲۲ - مارچ
سنټرل جيل پېښاور

# کله څنګه، کله څنګه

کله د خاورو نه باچا د ټول جهان جوړوې

کله د مشرې فرښتې نه لوی شیطان جوړوې

قلم راواخلې تقـــدیرونه او ازل ولیکې

بیا څو خلکو له د خپل لاسه ویران جوړوې

تا د جنت د صفتونو نه کتاب ډک کړې

د ماشومانو غونډې لوبې په ډېران جوړوې

زه خو به خود تندې په شوق ورته پښو کې ایږدم

خدایه! که ته داسې ښایسته ښایسته بتان جوړوې

بیا کې هم ستا انتها راته ښکاره پرته ده

چې جهانونه په برکت د خپل جانان جوړوې

۲۳ - سپتمبر ۱۹۸۱

(نمازی خانی)

# دا ساینس؟

ساینس خدایه د دین دښمن دی، دا خو ارتقا منی
لویه مسخره ستا د تخلیق ادم حوا منی

وی راته مذهب د کائیناتو تحقیق کړه دی
عقل زړ وی، راته، د نقل تقاضا منی

بل خوا ساینس خیږی د کائیناتو سینه وړاندې ځي
حد او فاصلې نه د مریخ نه د زهرا منی

غواړي ترقي دلته جنت اباد ول غواړي
بله دنیا نه منی فقط دغه دنیا منی

څه وکړم په دوو کې مرتبا له یم حیران یمه
عقل زما ساینس او عقیده مې خدایه تا منی

سپوږمۍ شوه پېغله څېل ښايست راته ښودل غواړي
ستا جدايي کې ما په ځان مېينول غواړي

څومره ساده خلك په دې كلي كې اوسي خدايه!
چې روح او تن سره په نور جدا كول غواړي

دا ناداني نه ده، نو څه ده؟ د كم عقل زړه ګې
چې په بې رحمه سترګو ځان په زور وېښتل غواړي

ستا مجبورۍ کړه د حالاتو تقاضې وې خېرې دې
زړه د مه شو کړه وختونه بدلول غواړي

زما احساس لکه د ګل په پرخه هم تازه وي
کرم دې نه وي، خوستم لږ کمول غواړي

ساده د ښکلو سره کله څوك په سر لګوي
دوی چې څه وايي بس هغه ترې اورېدل غواړي

شمسه! په دې وطن کې مينه په پيسو خرڅيږي
دا غرېبان خدای وهلي پوهول غواړي

جولای ۱۹۸۴

د عزت خپله سودا ده د عصمت ځان لړ بازاړه دی

د زړه دا رویه کتاب کې د غم هم یو کاروباړه دی

چې د حق خبره وکړي، د مظلومو نجات غواړې

هغه دلته مالیدلی یا کافر دی یا غدار دی

دا په څه گناه اسیر، دا په کوم الزام یې وتړې

دغه څوک دی چې هم خاندې هم ختلی پاس په دار دے

پیمانې د صبر ډکې، د غرور جام هم په زوره کې

د حالاتو سترگې سرې دي د تودې جگړې وار دی

چې څوک ظلم کړې باچا دی، چې څوک لوټ کوي امیر دے

عجیبه وطن کې اوسو ایماندار په دې کې خوار دی

د خدای په نعمتونو د قارون د بچو راج دی

د دوی ژوند د رحمت ډک دی، زموږ ژوند په اوږو بار دے

شمسه! ظلم دی، وحشت دی، هر خوا ستم ستم دی

که د سربازي کوي شپې نو د جنگ میدان تیار دی

جولائی ۱۹۸۳ (غازی خانی)

# د زندان ملګری

د سوات جیل کې زه، رحیم زاده باچا، غفار، رضا شاه باچا شاګرد و نیزی ـ دیره یو. د ټرو ندو ختو نه صبا کوو. ماد اشعرونه د دوی د یاد دو نو په سلسله کې و لیکل، غواړم چې نور خلک ترې هم خوند واخلی.

۱۸ ـ دسمبر سنټرل جیل سوات

دکور کلی نه لرې مونږ په تور زندان دیره
وختونه تیرو کله خفه کله خوشحاله

د سوات یخه هوا ده او د ټرمی یخ موسم دی
یو نمر نه وی اسمان کې ابل په مونږ هسی غم دی
چرسیان بنګیان موخواته دی، زمونږ ورځ جیم دی

دوه ځی ځلور ځی مونږ را ته یکې سیږه ریو
دکور کلی نه لرې مونږ په تور زندان دیره یو

زما څلور ملګري يکي رنګ په رنګ خوبونه
د چا مرچکي خوښ دي د چا بدي شي دالونه
دا پوښ‌رنګ صفت لري چي ټول اوري خبرونه

چي چرته څوك رها شي موږ دلته شوا تماله
وختونه تېروو کله خفه کله خوشحاله

زموږ يو ملګري رضا شاه د هزاره دي
بوجۍ ده د خندا په زړه غريب اره اړي دي
په شوق کي راغلي ، خوار را وستي يونعري دي (۱)

بيا يي خپل قسمت دي خو به جيل کي ورسره يو
د کور کلي نه لري موږ په تور زندان ديره يو

غريب په ملاقات پسي دا دوه سترګي څلور کړي
بابا به يي هم مغرور دي ، د هغه پښي ګډ کور کړي
دوه څي سګرټ څکي د شپي غمار ته غوږ کي شور کړي

---

ا ـ د M.R.D د مومنټ په سلسله کي په منګوره کي جېل ځان ګرفتاري ته پيش کړي وو .

چې کوروته وریادشي خوارکي شي ډیر ملاله
وختونه تیر وو کله خفه کله خوشحاله

غمازه موږ ملګري او سیدونکي د باچا دي
دی وروره ملعون دوست (۱) دی او ملګري د باچا (۲) دی
د کوره بهرمه شو، نه د شورانه د غوغا دي

راځي په غم ماچس کي موږ دده په ننداره یو
د کور کلی نه لري موږ په تورزندان دیره یو

دده په خیال کي ویم تورونه پټ پراته دي
دده سوي سینه کي امیدونه پټ پراته دي
خواوس دده په بیک کي بسکټونه پټ پراته دي

موږ په ریږدي جیل ته لاړه شي د عزیز (۳) دي مشغولاله
وختونه تیر وو، کله خفه کله خوشحاله

---

(۱) شاه رضا خان د باچا   (۲) رحیم زاده باچا تخته بند

(۳) عزیز او جهان زیب کاکا زموږ دوه ملګري دي چې بره په لوئي جیل کي موږ نه جدا وسي.

یو بل زمون ملګری چې په خوی کې شهزاده دی
زموږ د ټولو مشرهاجي رحیم زاده دی
خوش پوشه، خوش خوراکه په رښتیا نواب زاده دی

چې راشي دسترخوان لداوان وګړي چې پوره یو
د کوه کلي نه لري مونږ په تورنړ ندان دیره یو

د ده روښنې خل دی د ده جیل نه مرغی مات دی
خوښه ده هره پورته دی چې جیل دلته په سوات دی
پریشانه به وو ډیر، خوښه ده تینګ په ملاقات دی

لګیا دی راته وایي ځان خبر کړه د احوالـه
وختونه تیره وو کله خفه کله خوشحالـه

شاکر زمون سړه دی، جیل کې سنه په اخلاص تنګ دی
خه نورخه کار بې نشته هر وخت سره په جنګ دی
راغلی جیل ته دې د دغه زړه نروند پر تنګ دی

چې یوشی دې ناجوړ ټول پراته په بستره یو
د کوړ کلی نه لرې موږ په تورزندان دیره یو

یا ځې سحر ناوخته د خپل کوړ هغه عادت کړي
ټوسټونه شپېږاته خوري د معدې نه شکایت کړي
په ښه ترکارۍ تل د ملنګی(۱) کانې صفت کړي

موږ ټول ترې ټوسونه کړو چې څه کیږي صباله
وختونه تیرو و کله خفه، کله خوشحاله

یوړه یا ټیکولا کله کتاب، کله ګولۍ دی
کولمې نیسم په لاس کې کله درد کله التی وی
راوستی مې سپین موله ټول یاران په شاعری وی

یا خوب کړم، یا خوراک کړم، یا په بله مسخره یو
د کوړ کلی نه لرې موږ په تورزندان دیره یو

---

(۱) ملنګی زموږ مشفق دی. د باجوړ او سید ونګی دی او دوه نیم کاله قیدی دی ډېر ښه ترکاری پخوی

چې کینم دسترخوان ته کاروبا سم خوراکی یم
چې راشم په خبرو دویتنام انقلابی یم
نه موږ شته، نه او دسرشته ملاوایي چې «وابی»[1] یم

راځئ یاران راوړی گولی دخپتی ډیری مالسه
وختونه تیره وو، کله خفه کله خوشحاله

دا جیل هم عجب ځای دی مختلف خلک راټول کړي
دعقل خاوندان په کې دهر یو سړی ټول کړي
دا جیل هم ډیر عظیم کړی، بشری ډیر وگول کړي

موږ هم ردې جیلونو په کرم او په اسره یو
دا هم یوامتحان دی څوک کامیاب کړي څوک ملاله

---

(۱) دجیل پوملادی ډیر واو زړه وته سبق وایی او ځوانان تري پېژني ما ته همیشه په گزد ستر گو گوري .

دکور نکلی نه لری ، موږ په تور زندان ديره يو
وخـــتونه تیره ، وو کله خفه کله خوشحاله

۱۸ - دسمبر ۱۹۸۴

سنټرل جیل سیدو شریف

علم هغه چې ماحول نه پېرې اګاه شي
چې په څو ونډ کې د تولنې په کار راشي
کميت په کيفيت کې منتقل شي
د يو نوې خواص بل مظهر پيدا شي
شرايط چې برابر شي دا قانون دى
امکانات په صداقت کې رونما شي
د لزوم او جار تر ځان ته حالات وي
نو پيدا شي هغه وخت چې بل فنا شي
عمل تله ـ صداقت پرې معلومېږي
شمسه ! هيڅ نشته که دا جدا جدا شي

۱۶ ـ دسمبر ۱۹۸۳
ستمرال جبل سيدو شريف

هیڅ پوه نه یم په سترګو مې داغونه لګوي

چې اوښ ونه شي دوی په ما مهرونه لګوي

ګلونه بوټیول دلته کې جرم دی قسم دی

ازغي مې په لاسونو شل څـــکونه لګوي

حقونه خوارې کښتو له غوښتل زما ګناه

فتوې چې ملایان په ما لـــکونه لګوي

غربت دومره زور شوی دی څو تګو د پاره

انسان د پل په پښو کې خپل سرونه لګوي

بلاد سپرلي واخله زاهد هم تسپې په لاس

د ښکلو جوارې کې نن داوونه لګوي

پرون یې شمسه! ستا زړه د ښو په عشق ښکار

نن بیا لیونی سترګې نور ښکارونه لګوي

۱۹ـ دسمبر ۱۹۸۳

سنټرل جیل سید و شریف

یوه لاره د خپل ذاتي مفاد تکمیل کړي
بله لاره د ټول اولس د ننګ تجلیل کړي

حرص څه بده بلا ده، کورې وران شه
سکندرونه یو هابیل کړي بل قابیل کړي

انقلاب برامد کیږي نه دروغ دي
دا شیان نه دي چې څوک به یې ترسیل کړي

دا جیلونه به دې وخوري کسه خطا ځې
چې څوک سم ځي تل هغه خلک جمیل کړي

شمسه پوه یم د هغو دې الله مل شي
چې دښمن د خپل ژوندون او ځان کفیل کړي

۲۰ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سوات

نه مې دولت نه مې ایمان په کار دی
د زړه سکون له یو انسان په کار دی

نه سر ټیټوم نه بخښنه غواړم
ما لیونی له سور زنځیران په کار دی

په زړه یهود دی او په سترګو فرنګ
ما له هم دغسې جانان په کار دی

ما له دده د نشو سترګې بس دي
هغه له تخت د شاه جهان په کار دی

ما اوړ بیدلی دی چې زن به راځي
شمسه د اوښکو چراغان په کار دی

۲۱ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل پشاور

زه شاعره یم غزل نشم لیکلی
او نظمونه هم د چل نه شم لیکلی

بو دا شوی یم د زړه ژواک مې اوبه شو
اوس د جونو په اوربل نه شم لیکلی

د شرابو مستۍ څه کاني دي وکړي
لاس مې ړپي خپل عمل نه شم لیکلی

د زړه وینه مې ستا شعر لره ورکړه
دغه بس دي یاره بل نه شم لیکلی

شمسه! څه خوارې مې وکړې، خو عبث ده
ژوند مې خوبنی دی په اجل نه شم لیکلی

۲۲- دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل پېښاور

ښکلا مې د ننه په شاعر زړګي کې اور پیدا کړي
زړه مې سینه کې ماشوماتو غوندې شور پیدا کړي
د "حذای فقیر" هم ماشومان دلته په کانو ولي
څوک به په دې کلي کې شې دیاره کور پیدا کړي
میا به زموږ نه زاهدان ساقي له ورانډې وړي
که ښکلي ښکلي میکدې له دو څلور پیدا کړي
یوه بوسه دا ننګو زما د درد علاج دی
زه په اور سوی یم، جوړیږم که څوک اور پیدا کړي
شمسه بدبخته! ستا منت اوزاري څای نه نیسي
خلک څه بد دی آشنایي خاله په زور پیدا کړي

۲۳ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

چې صبا يې شي زغملی پوهه ځان کړي

نن هم دوم ظلم وکړي کاروان کړي

د تاريخ پاڼه په شانه ځي کم عقلو

ځان به ستړي کړي زموږ به څه وران کړي

بيا به ستاسو په بين بيرته اوده نه شي

چې راويښ يوځل په ځان پسې ماران کړي

د اولس د غيظ غضب نه به خلاص نه شي

که را ياد د غد پنځو وارو(۱) پيران کړي

شمسه نور د ظالمانو زور ماتيږي

د وخت چغه ده خبر يې مظلومان کړي

۲۳ - دسمبر ۱۹۸۳ سنټرل جيل پيښور ښريف

---

(۱) امريکه، فرانس، جرمني، جاپان، برطانيه

# دامن خیال

چرتــه داسې جزیره به پیدا نه شي
اوازونــــه د بمونو په کې نه وي
د جنګي جهازونو داشور و غوغا چې
د فوځیانو لښکرونه په کې نه وي

کارخانې وي ، خو انبار د وسلو نه وي
ورور ولي وي ، هیڅ خطره د حملو نه وي

دا نیو ترون چې هلاکت دی د سوونو
مــــیزائیل چې تباهي ده د ملــکونو
هلته دا وسلې او دا خــيژونه نه وي
نه به افــــراط وي د ژوندون د سامانونو

د ژوندون سندرې هر سړی وییلی
د جنګ نوم هلته هیچا نه پېــژندلی

امن، امن، خوشحالي وي، ښه لذت وي
يو د بل سره يې هډه محبت وي
دا زما اوسنا دویش خبره نه وي
اعتماد وي هلته ژوند د مسرت وي

يو چې تلي بل يې د ځان سره بوتللی
يو د بل په محنت لوبې ښه کولی

د غه خیال په حقیقت کې بدلیدی شي
دا "جنګی مسئلې" داخل راپېښیدی شي
د جنګ اور ته چې لمن وهي په زوره
دا امکان شته چې اوس جنګ په شاکیدی شي

د ظلمو په خولو نهي کې یو شعار دی
د جنګونو لوی دلال د ژوند غدار دی

لږ کوشش خلکه په دې لړ کې په کار دی
اوس د امن کیمپ پیاوړی دی تیار دی
خپل اواز د جنګ په ضد تېزول غواړي
د دوی دور تېر شو اوس زمونږ وار دی

بیا به ټوله دنیا داسې جزیره شي
بیا به د اژوندون او دا دنیا خوږه شي
په هر سړي کې به د امن ترانه شي
د جنګونو مور به تل د پاره مړه شي

۲۰- دسمبر ۱۹۸۳

شنهل محل سیدو شریف (سوات)

# ګراني

يو ګراني، بل پابندي، د رژيم وحشت دی
هر طرف ته د جرنيل باچا ګرځي دی
د پوځيانو حکومت دی، نور څه نشته
يا زندان دی، يا کوړه دی يا ګولۍ دی

# زما چغه

والله چې ساه به مې زندان کې واخلي
ولې په خدای که زما چغه مړه شي
منم چې ته د تشدد استاذ يې
ولې والله که مې جذبه سړه شي

# حساب

ای د زړه بيدارو خلکو وا ورئ
زه سر په سپړلی، سور انقلاب غواړم
ګناه مې داده د خوږو ليوه نه
د خپلو سرو وينو حساب غواړم

۲۵-اکتوبر ورسک تار چر کيمپ

# ایلم ته

د سحر باده ورځه ایلم ته وایه

ستا د بن طوطي بندي دي متني کې

باد د دنګو څوکو پرېږده چې راد ړومي

چې ساه راشي د زندان په لیوني کې

# بې شکه

بې شکه چې مې اوس په زړونو کې بندوي شي!

مانه دار په سر هم بې قصوره ځوروي شي!

قلم مې سوزوي شي، اخیستي شي، ماتوي شي!

خو ذهن مې نادانه! په والله که بندولي شي!

# پاک یې نشته

که ظلم، که ستم دی، که زندان وي پاک یې نشته

غضب مې خبر نه دی ځان ته په زور تازه کوي

چې دار پله مو بیا یې ساد توب ته دي قربان

خواره واره بخري د سور او ر تازه کوي

۱۸ـ اکتوبر ۱۹۸۰ متني حوالات

## پابندي

په خيالونو پابندي لګول غواړي
سادګان دي ځان په زور غولول غواړي
دا په مونږ ليونو چې يې لاس چوت کړ
سړي مې چې ځان ته په زور پارول غواړي

## مدحي

دا اقتدار په کرسو ناستو واورئ
مدحي ليکل مونږ ازده کړي نه دي
د تمپوس ننه يو د باتور بچي يو
شت ګرول مونږ زده کړي نه دي

## ورسك

د وحشت او د ظلمت تيري دي
ورسك نه دي قتل ګاه دي د ځوانانو
خو چې سر مو زړه د لته راشي نو پاسه شي
دا مکتب دي د ګچه انقلابيانو

۱۳ اکتوبر ۱۹۸۰ ورسک تاړ جر کيمپ

## مړدی شم

که مړم د لوږې مړدی شم خو دا د لاس قلم دی
والله چې د قارون په خزانو نه بدلوم
د زړه ترجماني کوي ځما د خیال اشنا
زه تا دادم چې په کارخانونه بدلوم

## سره گلونه

دا زما د بدن وینه ورله ورکړي
دې غوټو نه به هم سره گلونه جوړ شي
د خزان سپیره بادونه به ترې خوري
یوه ورځ به د سپرلو وختونه راشي

## ستا جنت

ستا جنت ستا شرابونه ستا باغونه
دا شته د هغه دوه سترگو نه زار شته
خپله خوره سپې مړشوی ملا جانه !
ما ته وایې چې د نو شو بند قلار شه

۱۹ ـ اکتوبر ۱۹۸۰
متنی حوات

دا قام او دا وطن د ربا ندي حق لري نوابي

## قلنګ

قلنګ مو د ځوانۍ یو څو کلونه اوسیږی
چې ستاسو په محنت باندې یې شان دې قایم کړی
یارانو دغه د ننګ سپین محلونه اوسیږی

## آدم خوروته

موږ په مړو غړمو کې وسوزو کار وند کوو
تاسو زموږ په زحمت دړوند سلمان جوړوی
ادم خوارو یې دړوند حق نه لري ظلم کوی
زموږ په سرو وینو د خپلو مانوشان جوړوی

## دخیټی غم

دخیټی غم ژاله کولی نه شی
ما د دنیا په رنګینو تیرباسی
شیخه ددې مرض دوانه لري
ما د فریب په مسئلو تیرباسی

۲۳- اګست ۱۹۸۰
لیډی ریډنګ هسپتال

## نجي ملکیت

ته د څو کسو بادارۍ په ټولو خلکو غواړې
زه د خوارانو د ښېګړې حکومت غواړمه
چې د نجي ملکیت زړلی د سماجه لرې کړي
د کسانانو مزدورانو امریت غواړمه

## دا ژوند

څو چې دا کاسې د ظلم کړو نسکورې
زندانونه به په خپلو وینو سره کړو
چې بېړو او ځنځیرونو کې تېرېږي
په بلا دې شي په داسې ژوند به څه کړو

## انصاف

نه انصاف شته، نه ائین شته، نه قانون شته
د خوارانو غوښې دلته کې غټان خوري
دا نر له دا خپل حق ګڼي بې پرسه
لکه غټ کب چې واړه واړه کبان خوري

۱۷ فروري ۱۹۸۱
سنټرل جیل هري پور

## ځواني

دځواني دليونتوب نشه خبرنه یې
زړه دې نښته مینتوب نه خبرنه یې
د دوزخ به اور به تا سپرلی نه وی
خو دیار د غین دخوب نه خبرنه یې

## سپرلی او ښکلا

هم سپرلی وی ، هم ښکلا ده ، هم شراب
هم لیلی ده ، هم ثواب دی ، هم عذاب
دایمان ساتنه ګرانه شوه واعظه !
هم شیطان دی هم شتاب دی هم شباب

## بلاګاني

یوکاسه نیمه شراب به دړه وی
راګیر کړی یم ساقي بلاغمونو
دغه یو علاج یې بس راته معلوم دی
نه جاروزی بلاګاني په دمونو

۲۰ـ مارچ ۱۹۸۱
منتهل جمیل هسری پور

## شیخه

شیخه وزګاری، ذکر وکړه، لړ تسپی واړوله
ښه خوراکونه خوره، جومات کی ستا پری زمان نه کیږی
حوری وینه، غلمان ستا یه، جنت له میوو ډک کړه
د خولی خبری دی کوه، ستا پری تاوان نه کیږی

## زما غضب

زما غصه د ظالمانو په زکوٰة سړوی
زما غضب په حدیثونو د مشکوٰة سړوی
یه ملاجانه! ستا په مکر او ریا پوهیږم
تا وده جذبات د مظلومانو په ایات سړوی

## ژوند سندره

راشه د ژوند خبری وکړه د ژوند و دنیا کی
پریږده د مرګ او د عذاب خبره څله چیړی
داد وهمونو فلسفی په سمندر لاهو کړه
ته د روغو خلکو ته د ژوند سندره څله چیړی

۱۹- نومبر ۱۹۸۳
سیدو شریف سنټرل جیل

## فلسفه

دازل نه د ثبات ذکر کوونکیه
دابده دا ساتل ستا فلسفه ده
د حرکت په راز کې د ننه تکامل دی
لیوني راته منودلې مسئله ده

## ضدین

د تاریخ په هره پاڼه کې پرته ده
خو نظر د یو دانا ورله په کار دی
د ضدینو په جګړه کې یې تول راز دی
داچې چا ویپېژندو هغه هوښیار دی

## ارتباط

ارتباط د جدلیاتو یو قانون دی
جدایي که نه ژوندون نه ارتقا شته
علم وایې زما هډ پراخ کړئ خلکه
زما مخکې نه مریخ شته نه زهرا شته

۲۳ دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سید و شریف

## سرې شونډې

دغه سرې شونډې دي وینو تکې سرې دي
کنه زړه د ګل چاودلی دی شبنم ته
ستا د وه شرابي سترګو نور څه کار شته
که دا پیدا دی شکلیه زما غم ته

## زندان زما مسکن

هر قدم کې د پنجرو دروازې لړزي
لیوني زړه مې په څه بلا مین دی
خلک زړې په شعرونو کې ستاینه
دا زندان خلک زما د وهم مسکن دی

## دا پنجره

دا پنجره بنده ده سکون دی لږ آرام دی
سترې شوې دمه وېره په چمن کې
هسې هم زندان زندان دی پابندي ده
ازادي تش په نامه ده په وطن کې

۱۷- دسمبر ۱۹۸۳
رستم خیل سید و شریف

PROPERTY OF ACKU
2693

گڼه (۲۸۷)

( مطبعه دولتی )